

# تر کرونا مخکې به مو بیوزلي ووژني

## په افغانستان کې ګڼ اړخیز بحرانونه او ځوانان

اورځلا نعمت، ویدیا دیواکار، احسان الله غفوری، شکریه آزادمنش

آګست ۲۰۲۲

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

تلفیقي مقاله

# ”تر کرونا مخکې به مو بېوزلي ووژني“
## په افغانستان کې ګڼ اړخیز بحرانونه او ځوانان

**اورځلا نعمت، ویدیا دیواکار، احسان الله غفوري، شکریه آزادمنش**

**آګست ۲۰۲۲**

ژباړه: احسان الله ځیرک

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-٦۴۱-۸۹-۱

د کتاب د مخ انځور: عصمت الله حبیبیان

د خپرونې کوډ پ ۲۲۰۵

پـه دې څېړنـه کـې وړانـدې شـوي نظریـات د لیکـوالان دی او د افغانسـتان د څېړنـې او ارزونـې اداری یـا هـم همـکارو سـازمانونو نظریـات نـه منعکسـوي

©۱۴۰۱ د افغانسـتان د څېړنـې او ارزونـې اداره، دغـه خپرونـه کیـدای شي یواځـې د غیـری سـوداگریزو موخـو لپـاره نقـل، او یـا بیـا ځلـې چـاپ شي پـه دی شرط چې لیکـوال او منبعـه یـې خـبره شـی. کـه چیـری دغـه خپرونـه بیاچـاپ، ذخیـره او یـا بریښـنایې بڼـه یـې لیـږدول کیـږی بایـد یـو لینـک یـې د AREU کورپاڼـې (af.org.areu.www ) تـه واسـتول شي. او یـا هـم د بریښـنالیک او یـا هـم ټلیفـون شـمیری لـه لیـاری اړیکـه ونیسـئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالي ټولني له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره دیوی غیرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کی ثبت شوی ده. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په دریم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د السته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره الره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

تمویلونکی:

د دی اداری تمویلونکی د سویدن نړیواله انکشافی اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

The Foundation to Promote Open Society (FPOS) and Safe World (SW).

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

Global Challenges Research Fund (GCRF), The School of Oriental and African Studies (SOAS), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tanks Network (ATTN), Sustainable Development Solutions Network (SDSN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

# د لیکوالې په اړه

**ډاکټر اورځلا نعمت** په سیاسي نژاد پوهنه کې تخصص لري او د انګلستان هېواد له ختیځو او افریقایي مطالعاتو پوهنځي څخه یې په پراختیایي مطالعاتو کې دکتورا تر لاسه کړې ده. د نوموړې څېړنیزې سیمې حکومتوالي، شخړه، جنسیت او بشري حقوق، ناقانونه اقتصاد، پولې ته څېرمه سیمې او دولت جوړونه دي. اغلې نعمت د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې رئیسه ده.

**ویدیا ډیواکار** د اوږدمهالې بېوزلۍ په مشورتي شبکه کې د ترکیبي تګلارو څېړونکې ده، چې له پوهنتونونو او فکري خونو سره د پرمختیایي څېړنو په برخه کې لس کلنه کاري تجربه لري. د نوموړې کاري تمرکز له بېوزلۍ د دوامداره خلاصون لپاره د جنسیتي جلا والي پر انګېزو او د بېوزلۍ د لومو په رامنځ ته کولو کې د جګړې پر ونډه دی. آغلې ویدیا په سویلي او سویل ختیځې آسیا، سویلي آفریقا صحرا، منځني ختیځ او شالي افریقا سیمه کې د انساني ودې، جګړې او بېوزلۍ متحرکاتو په اړه د ژورنالونو لپاره مقالې، د کتابونو ځینې څپرکي او راپورونه لیکلي دي. نوموړې د دې ترڅنګ د بېوزلۍ متحرکاتو په برخه کې د نړیوالو سازمانونو او دوه اړخیزه مرستندویه ادارو لپاره ګڼ شمېر پالیسۍ محوره څو ملیتي، څو کلنۍ او ګڼ شموله څېړنیزې پروژې هم پرمخ وړې دي.

**احسان الله غفوري** د افغانستان له څېړنې او ارزونې ادارې سره د څېړنې آمر په توګه دنده تر سره کوي. نوموړي په اسلامی شریعت کې له پېښور څخه د لیسانس سند تر لاسه کړی او د افغانستان له څېړنې او ارزونې ادارې سره له ۲۰۰۹ زیږدیز کال را په دېخوا کار کوي. نوموړی د کیفي او کمیتي څېړنو په دواړو برخو کې پراخه تجربه لري. د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ زیږدیز کلونو ترمنځ غفوري د خونديي ژوندانه څېړنې له کنسرسیوم ډلې سره یو ځای شو، چېرته چې نوموړي په ګڼ شمېر څېړنو کې د همکار لیکوال دنده پرمخ وړې ده. غفوري د انساني قاچاق، جنسیت، ژوندانه ارزونې او د افغانستان په کلیو او بانډو کې د نارسمي امتیاز د ونډې په ګډون له بېال بېلو څېړنیزو پروګرامونو سره همکاري کړې ده.

**شکریه ازادمنش** د افغانستان څېړنې او ارزونې ادارې سره د څېړنې آمرې په توګه دنده تر سره کوي. نوموړې د انګلیسي ژبې په ادبیاتو کې د لیسانس سند لري او اوسمهال په نړیوالو اړیکو حقوقو کې د ماسټري تر کچې زده کړې پرمخ وړي. اغلې شکریه د څېړنې په برخه کېله ۲۰۰۹ زیږدیز کال را په دېخوا کار کوي. د دې ترڅنګ یې د ښځو مشرۍ ودې په پروګرام کې د همغږې کوونکې په توګه هم دنده تر سره کړې ده. شکریه د جنسیت اړوند پروژو په پرخه کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې ارتباطي شخص دی او د انتقالي عدالت، نجونو زده کړو، ماشومانو کډوالي، د زده کړو سیاسي اقتصاد او روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو اړوند موضوعاتو په برخه کې یې کار کړی دی. په دې وروستیو کې نوموړې د ملګرو ملتونو سازمان د ښځو چارو دفتر په مالي مالتړ «د سولې په پروسه کې د افغان ښځو ګډون» تر سرلیک اُلندې یوه څېړنیزه مقاله لیکلې ده.

# تقریظ

مونږ د ټولو هغو ګډونوالو څخه چې د مرکو، او غونډو له لیاري یې همکاری کړي مننديه يو چې د دغې مقالې لومړي او دوهمې معلوماتو په راټولولو کې مرسته کړي، همدارنګه د ټولنې څخه هم مننه چې په سيمه کې يې زمونږ لاسرسي اسانه کړ. دا څیړنه د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې، (AREU)، اوږدمهاله بي وزلۍ مشورتي شبکې (CPAN)، چې اوس مهال د پراختیايي مطالعاتو انستیتیوټ کې کوربه توب کوي چمتو شوی ده. دا څیړنه د FCDO او IDS کویډ ټولګې په ملاتړ تر سره شوې ده. لیکوالان د اندريو شيپرډ ، پيټر ټايلر او د دوه نامعلومه بیاکتونکو څخه مننديه دي چې د دوې تبصرو او نظرونو په رڼا کې دغه څیړه لا غني او پیاوړې شوه.

دې ته ورته نورې خپرونې دلته کتلای شي:

(CPAN) ۲۰۲۰. دافغانستان کویډ ۱۹ بي وزلۍ څارنه، دا څیړنه د اوږدمهاله بي وزلۍ مشورتي شبکې او افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې لخوا خپره شوې ده.

نعمت، ا.؛ دیواکر، و.؛ غفوري، ا. او ازادمنش، ش. (۲۰۲۲).'معیشت او په افغانستان کې د پرتو ننګونو په منځ کې هوساینه'.IDS Bulletin ۵۳,۳: ۵۹–۸۲, DOI: ۱۰,۱۹۰۸۸/۱۹۶۸-۲۰۲۲,۱۲۷

دیواکر، و. (۲۰۲۲). د کوبډ-۱۹، جګړې او ناورینونو په منځ کې د ځوانانو سوکالي: افغانستان ته کتنه. څېړنیـــزه مقاله د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې لخوا خپور شوی.

د يادوني وړ ده، چې د لیکوال د نظر ښودنه په دې معنی نده چې د AREU, IDS, CPAN, ODI, FCDO او یا د انګلستان دولت نظر منعکس کړي. د لیکوالانو په حیث مونږ د هرې غيري ارادي تیروتنې مسوولیت په غاړه اخلو.

# لیکلړ


| | |
|---|---|
| د افغانستان د ښېړنې او ارزونې ادارې په اړه | أ |
| د لیکوالې په اړه | ب |
| تقریظ | ج |
| پیل توري | ه |
| لنډیز | و |
| سریزه | ۱ |
| پر کندهار او هرات د تمرکز له مخې افغانستان کې بحرانونو ته کتنه | ۲ |
| میتودونه او تګلارې | ۵ |
| څو اړخیز بحرانونه او د خلکو غربت | ۸ |
| د سوکالۍ غوړېدا لپاره د ځوانانو په لاس کې محدود فرصتونه | ۱۲ |
| د مقابلې تړلې ستراتیژۍ | ٦١ |
| پایله او وړاندیزونه | ۱۹ |
| اخذلیکونه | ۲۱ |
| د غبرګون او نظرونو غوښتنه | ۲۳ |
| د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې نوې خپرونې | ۲۴ |

# پیل توري

| | |
|---|---|
| CPAN | د اوږدمهالې ببوزلۍ مشورتي شبکه |
| IDP | کورني بې‌ځایه شوي |
| IE&LFS | د عوایدو، لګښتونو او کاري ځواک سروې |
| IFRC | د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنو نړیوال فدراسیون |
| MoPH | د عامې روغتیا وزارت |
| NGOs | نادولتي سازمانونه یا غیرحکومتي مؤسسې |
| NSIA | د احصائیې او معلوماتو ملي اداره |
| ODI | د بهرنۍ پرمختیا انسټیټیوټ |
| REACH | د افغان ولسونو او کورنیو لپاره د مرستندویه هڅو پروګرام – یا ملي دسترخوان |
| SIGAR | د افغانستان د بیارغونې په چارو کې د امریکا متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش یا سیګار |
| UNAMA | د افغانستان لپاره د م.م (ملګرو ملتونو) مرستندویه ماموریت  یا یوناما |
| UNHCR | د کډوالو په چارو کې د م.م عالي کمېشنر |

# لنډيز

دا مباحثوي مقاله د سختې جګړې او وچکالۍ (۲۰۲۱) پرمهال په افغانستان کې د کوېډ -۱۹ ټولنيزو – اقتصادي اغېزو له سپړنو مهمې ترلاسه شوې موندنې په ګوته کوي. په دې موندنو کې ډېرى تمرکز پر کندهار او هرات ولايتونو شوى. په دې مقاله کې په پورته دوو ولايتونو کې له ساحې د راټولو شويو اطلاعاتو پر ټولګه او د هغوى پر تحليلونو تکيه شوې ده. په دويم قدم کې په ۲۰۲۰/۲۰۱۹ز کلونو کې د کورنيو د سروې کمي اطلاعاتو له تحليل د ترلاسه شويو ليدلورو څخه پکې کار اخېستل شوى، چې يوه برخه يې د کوېډ – ۱۹ له پيل سره هم مهاله ترسره شوې. دا مقاله د يادې څېړنې د درېيو مهمو برخو پر موندنو راڅرخي: (۱) د کوېډ -۱۹، جګړې او اقليمي تغييراتو د ټکانونو او فشارونو له وجې د هممهاله بحرانونو اغېزې، (۲) په دې ډول شرايطو کې د ځوانانو سوکالي، او (۳) د مقابلې هغه ستراتيژۍ چې کورنيو په دې ډول سختو شرايطو کې ورته مخه کړې ده. دا موندنې هغو شرايطو ته اشاره کوي، چې کورنۍ په لوړه کچه د عوايدو له لاسه ورکولو له وجې پکې کړېدلي دي او زياتره کورنۍ د مقابلې داسې ستراتيژيو غوره کولو ته مجبورې شوې وې، چې دوى يې لا د بېوزلۍ کندې ته غورځولې. په دې شرايطو کې په تېره ځوانان تر ټولو ډېر زيانمن شوي، ځکه ځوانان تر ډېره د تکيې وړ شتمنې او ملکيتونه نه لري، ترڅنګ يې کاري بازارونه راکم او هغه ټولنيزې شبکې کمزورې شوې، چې دوى د پراخو ټولنيزو فشارونو پرمهال پرې تکيه کولاى شوه. دا څېړنيزې موندنې د دې لپاره کارول شوي، څو د اړوند پرمختيايي پاليسيو او پروګرامونو لپاره داسې وړانديزونه وکړي، چې په افغانستان کې د هم مهاله بحرانونو پرمهال د بېوزله او زيانمنو ځوانانو غوره لاسنيوى وکړاى شي.

# سریزه

افغانستان په ۲۰۲۱ز کال کې له داسې یو فوق العاده حالت سره مخ شو، چې په بېلا بېلو برخو کې د خلکو پر ژوند د سختې جګړې او کوېډ -۱۹ نړیوالې وبا د اغېزو ترڅنګ د اقلیمي بدلونونو له وجې د پرمخ زیاتېدونکې او دوامدارې وچکالۍ د اغېزو یوه پېچلې بېلګه په ګوته کوي. د ۲۰۲۱ تر اګست د مخه د هېواد په ټولو ولایتونو کې بې‌ساري جګړې روانې وې.[۱] د دې جګړو په ترڅ کې ولسوالۍ، ولایتونه او بالاخره پلازمېنه کابل په تدریجي ډول د اوسنیو سرپرستو چارواکو (طالبانو) لاس ته ولوېدل. په ورته وخت کې د نړۍ بلې هرې برخې په څېر افغانستان هم د کوېډ -۱۹ وبا تر اغېزو لاندې راغی، چې دندو، روغتیایي خدمتونو او د عوایدو بېلا بېلو سرچینو ته یې د خلکو پر لاسرسي اغېزې پرېباسلې. د دې ترڅنګ، د تېرو څلورو کلونو په ترڅ کې دویمې سختې وچکالۍ (IFRC، ۲۰۲۱) پر زیات شمېر هغو خلکو اغېزې کړې، چې د عوایدو له پلوه پر کرنه او مالدارۍ متکي دي.

په دې اړه ډېرې کمې څېړنې شوې، چې دغو حالاتو څه ډول په ګډه په افغانستان کې د خلکو پر ژوند او سوکالۍ اغېز کړی. د دې مقالې هڅه دا ده، چې د دې موضوع په اړه تر ډېره بریده پراخ پوهاوی رامنځ ته کړي او د داسې څېړنې په غوړېدا کې مرسته وکړي، چې هم‌مهاله بحرانونه راسپړي. دا مقاله د هغې څېړنې په رڼا کې لیکل شوې، چې د افغان ځوانانو پر کاري‌چاپېریال او د ژوندانه پر ثبات د کوېډ-۱۹ د اغېزو څرنګوالي او دا چې دوی د دې اغېزو په وړاندې د کومو تګلارو په غوره کولو مقابله کړې او په دې موده کې یې له کوم ډول ډله‌ییزو اقداماتو او منابعو څخه د خپل ځان د هوساینې لپاره کار اخیستی، مخکې ترسره شوې ده.[۲]

دا مقاله دوې مهمې برخې لري. په لومړۍ برخه کې پر هغو څېړندودونو او تګلارو رڼا اچوي، چې په دې مقاله کې ترې کار اخېستل شوی. پردې سربېره د هم‌مهاله بحرانونو له څېړنو ترلاسه شوي درسونه راسپړي، چې کرونا یې په سر کې وه او د سختو جګړو له وجې وضعیت اغېزمن شوی و دغه راز د اوږدمهالې وچکالۍ له کبله په اقتصادي لحاظ هم خورا زیات ابهام موجود و. په دویم قدم کې بیا د هرات او کندهار له ولایتونو د ساحوي کار په ترڅ کې د راټولو شویو کیفي اطلاعاتو پرمټ د اقلیمي بدلونونو او جګړې په شرایطو کې د خلکو پر ژوند په افغانستان کې د کوېډ-۱۹ وبا اغېزې راسپړي، چې تر ډېره بریده د ۲۰۱۹/۲۰۲۰ز کلونو د عوایدو، لګښتونو او کاري ځواک سروې له کمې اطلاعاتو په کې ګټه اخېستل شوې. د یادونې ده، چې یاده سروې د کوېډ-۱۹ له پیل سره هم‌مهاله ترسره شوې ده. د دې څېړنې موندنې بیا په خپل وار سره د داسې پالیسیو او پروګرامونو لپاره د وړاندیزونو په پراختیا کې کارول شوې دي، چې موخه یې د هم‌مهاله بحرانونو پرمهال د افغانستان زیانمنو او بېوزله وګړو غوره لاسنیوی کول دي.

بله برخه بیا د سختو جګړو پر منځپانګه راڅرخي او په دې غبرېږي، چې د عمل په ډګر کې د هم‌مهاله بحرانونو (جګړې، کوېډ-۱۹ او اقلیمي بدلونونو له وجې د سختو ټکانونو او فشارونو) بېلوونکې ځانګړنې کومې دي. ورپسې په درېیمه برخه کې زموږ د تحلیلونو لپاره غوره شوې تګلارې ته کتنه شوې. په بله برخه کې بیا د څېړنې موندنې په جزئیاتو راسپړل شوې دي، یعنې په څلورمه برخه کې د درې‌ګونو محورونو تحلیل وړاندې شوی. په پنځمه برخه کې ټول تمرکز په افغانستان کې د ځوانانو پر سوکالۍ شوی، په شپږمه برخه کې د پورته ګڼ‌اړخیزو بحرانونو پرمهال د کورنیو له لوري د دې حالاتو په وړاندې د مقابلې هغو ستراتیژیو ته کتنه شوې، چې ګټورې تمامې شوې دي او بالاخره په اوومه برخه کې د پالیسۍ وړاندیزونو او له دې څېړنې د ترلاسه شویو پایلو په ګوته کولو سره دا مقاله رانغاړو.

---

۱ . یوناما، ۲۰۲۱.

۲ . دا څېړنه د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د بهرنۍ پرمختیا انستیتیوټ د اوږدمهالې بېوزلۍ مشورتي شبکې ترمنځ د همکارۍ په ترڅ کې د کوېډ-کولیکتیف یوه برخه وه، چې د برېتانیا مرستندویه ادارې (UKAid) له لوري د بهرنۍ پرمختیا مطالعاتو انستیتیوټ له لارې تمویل شوې ده. د څېړنې په اړه د لا ډېرو جزئیاتو لپاره وګورئ: https://www.covid-collective.net/about/.

# پر کندهار او هرات د تمرکز له مخې افغانستان کې بحرانونو ته کتنه

د افغانستان د نفوسو زیاته برخه کلیوالي وګړي تشکیلوي، چې له دې ډلې زیات شمېر کورنۍ په بېوزلۍ کې ژوند تېروي.(د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، ۲۰۲۱). په دې برخه کې د ولایتونو په کچه یو تر بله توپیرونه موجود دي. کندهار د زیاترو سویلي او سویل‌لوېدیځو ولایتونو لپاره د کډوالۍ، سوداګرۍ او راکړې ورکړې، زده کړو او فرهنګي دغه راز سیاسي فعالیتونو له پلوه مرکزي نقطه ګڼل کېږي. له پاکستان سره پر کرښه د سپین‌بولدک – چمن تر ټولو لوی بندر هم په کندهار کې موقعیت لري. د یاد ولایت د نفوسو شمېر په ۲۰۲۱ز کال کې ۱.۴ میلیونه وګړي اټکل شوی و، چې له دې ډلې ۰.۸ میلیونه په کلیوالي سیمو او ۰.٦ میلیونه په ښار کې استوګن وو(د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، ۲۰۲۱). هرات ولایت بیا د لوېدیځ افغانستان لپاره له سوداګریز، اقتصادي، ښوونیز او فرهنګي پلوه مرکزي نقطه ده، چې د نفوسو شمېر یې په ۲۰۲۱ز کال کې ۲.۱ میلیونه وګړي اټکل شوی و. له دې ډلې ۱.۵ میلیونه یې په کلیوالي سیمو او ۰.٦ میلیونه یې په ښار کې استوګن وو(د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، ۲۰۲۱). هرات له اقتصادي پلوه په پرله‌پسې ډول د افغانستان په کچه د ثبات لرونکو او سوکاله ولایتونو په ډله کې راغلی دی (هوت او نور.، ۲۰۱٦) او کندهار بیا د مخکښو سیاسي ځېرو د قدرت مرکز ګڼل کېږي(جاکسون، ۲۰۱۵). پردې سربېره، په وروستیو کلونو کې دا وضعیت د بېلا بېلو بحرانونو له وجې، چې لاندې مو د هغوی جزئیات راسپړلي، د بدلېدو په حال کې دی.

## کوېډ – ۱۹

کرونا یا کوېډ-۱۹ وبا په نړیواله کچه د خپلو لومړنیو پراوونو پرمهال د ۲۰۲۰ز کال په پسرلي کې افغانستان ته راورسېده (وو او نور، ۲۰۲۰). له هغه وخت را په دېخوا د دې وبا ګڼ شمېر څپو د هېواد بېلا بېلې برخې په متفاوته بڼه اغېزمنې کړې دي. په نړیواله کچه د ۲۰۲۲ز کال تر اپرېل میاشتې له ۴۹۴میلیونه زیات خلک پر کرونا ککړ شوي وو او له ٦.۱ میلیونو زیاتو خلکو د کرونا له وجې خپل ژوند بایللی و. په هغو هېوادونو کې چېرته چې دوامداره جګړې دي او مدیریتي سیستمونه یې کمزوري دي، د کرونا په برخه کې یوه اساسي ننګونه د واقعي ارقامو کموالی دی. خو پردې سربېره، د رسمي شمېرو له مخې ۱۷۷،۹۷۴ افغانان پر کرونا ککړ شوي او تر دې دمه ۷،٦۷۱ کسان د کرونا له وجې مړه شوي( د روغتیا نړیوال سازمان، ۲۰۲۲). د اوسنۍ څېړنې ارقام د ۲۰۲۱ز کال اپرېل او جولای میاشتو ترمنځ راټول شوي، چې په افغانستان کې د کوېډ-۱۹ د خپرېدو د اوج دوره وه او ترڅنګ یې په کندهار او هرات دواړو ولایتونو کې په لوړه کچه مثبتې پېښې ثبت شوې وې.

هغه ننګونې چې د کرونا وبا پرله‌پسې څپو له کبله رامنځ ته شوي وې، په کندهار او هرات ولایتونو کې هم تر سترګو شوي دي(د اوږدمهالې بېوزلۍ مشورتي شبکه، ۲۰۲۲). یاد دوه ولایتونه زموږ د کیفي تحلیلونو لپاره انتخاب شوې ساحې هم وې. د دې ترڅنګ، هرات هغه ولایت و، چې په افغانستان کې د کوېډ-۱۹ لومړنۍ مثبته پېښه په کې ثبت شوه (موسوي او نور.، ۲۰۲۰). هرات ولایت د کوېډ-۱۹ وبا تر ټولو لومړنۍ څپې پرمهال په ۲۰۲۰ز کال کې د کرونا وبا له وجې د هېواد سختو کړېدونکو برخو په ډله کې راغی. په ورته مهال کې په افغانستان کې د کوېډ-۱۹ کره ارقامو ته لاسرسی د ټولنیزو – کلتوري پېغورونو له وجې ډېر ستونزمن دی؛ زیاتره کورنۍ غواړي مثبتې پېښې پټې کړي او هغوی چې د دې ناروغۍ کمزورې نښې نښانې لري، ډېر کم یې د ازموینې (ټېسټ) یا هم درملنې هڅه کوي (خداداد او نور، ۲۰۲۱:۲۲۱). له دې کبله د دواړو انتخاب شویو ساحو ارقام یوازې د کوېډ-۱۹ هغو ناروغانو د تایید شویو پېښو یو اټکل دی، چې ښایي له سخت روغتیایي وضعیت سره مخ شوي وي او بیا یې د کرونا ازموینه شوې وي یا هم په روغتون کې د درملنې په موخه بستر شوي وي.

د کوېډ-۱۹ له لومړنیو ورځو را په دېخوا د عمل په ډګر کې د ګڼ شمېر فعالانو له خوا په افغانستان کې د دې وبا په وړاندې په بېلا بېلو بڼو غبرګون ښودل شوی. نادولتي سازمانونو یا مؤسساتو، چې زیاتره یې د ولسي پرمختیا په برخه کې کارونه پرمخ وړي، د روغتیا او حفظ الصحي وقایوي تدابیرو په اړه د عامه پوهاوي هلې ځلې کړې دي او روغتیایي کارکوونکو ته یې ځینې بېړني خوندي کوونکي کېټونه یا مواد برابر کړي دي. د حکومت اقدام بیا که څه هم په ډېره لوړه کچه هغمرې نه و، په دوو برخو وېشل شوی و: د عامې روغتیا وزارت د کوېډ-۱۹ لپاره د درملنې او ازموینې مرکزونو په رامنځ ته کولو دغه راز د روغتیایي سکتور کارکوونکو ته د شخصي خوندیتوب وسایلو په

ورکړې سره د بېړني روغتیايي اقدام مشري په واک کې اخیستې وه. د کلیو پرمختیا او بیارغونې وزارت او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې اداري بیا په ګډه د نړیوال بانک په مالي ملاتړ د "ملي دسترخوان" په نوم د(اګست ۲۰۲۰ – تر ډسمبر ۲۰۲۱ پورې) د ۲۸۰ میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت یوه نوې پروژه رامنځ ته کړه ( نړیوال بانک، ۲۰۲۲). د افغانستان بیارغونې په چارو کې د امریکا متحده ایالاتو ځانګړې سرمفتش یا سیګار د راپور له مخې د امریکا متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیايي ادارې او نړیوال بانک د افغانستان بیارغونې امانتي صندوق او د اقلیمي بدلونونو په وړاندې د آسیا ارتجاعیت پروګرام له لارې په ګډه د کوېډ -۱۹ او وچکالۍ ځپلو کورنیو سره ۲۵۳ میلیونه امریکايي ډالر نغدي مرسته کړې ده (سیګار، ۲۰۲۱). که څه هم د ملي دسترخوان پروژه له خپل پلان سره سمه عملي شوه، خو په هغه وخت کې مخالفو وسله‌والو د هېواد په ځینو برخو کې د دې پروژې د پلې کېدو په مقابل کې له دوی سره د همغږۍ کموالي، فساد موجودیت او اړمنو خلکو ته د نه رسېدو له وجې مخالفت کړی و.[3]

## ناامني او اقلیمي بدلون

له کرونا وبا سره هم‌مهاله افغانستان په دې موده کې د خپل تاریخ تر ټولو ننګوونکی پړاو تجربه کړ. لومړی، د هېواد په ګوټ ګوټ کې د کال په لومړی نیمايي کې زوروري او سختې جګړې د پراخ شمېر کورنیو بې ځایه کېدو، دندو له لاسه ورکولو او بازارونو ته د لاسرسي راکمېدو لامل شوې. دویم، د ۲۰۲۱ز کال د اګست په منځنیو کې ټول حکومت چې تر ډېره بریده پر بهرنۍ مرستو متکي و رانسکور شو او طالبان چې د حکومت اصلي وسله‌واله مخالفه ډله وه، بشپړ هېواد یې په خپله والکه کې واخیست. په دې بدلونونو پسې د نړیوالو پرمختیايي مرستو جریان په ټپه ودرېده، پولې وتړل شوې یا هم پر پوله د سوداګرۍ لپاره زیات شمېر محدودیتونه راپورته شول، تر دې چې د ۲۰۲۱ز کال په دوبي کې د وزګارتیا او بشري بحران تر ټولو ناوړه وضعیت منځ ته راغی.

په کور د ننه افغانستان کې هرات او کندهار ولایتونه د هغو کورنیو بې‌ځایه شویو خلکو لپاره د ساه اخیستلو ځایونه ګڼل کېږي، چې زیاتره یې په لوېدیځو غرنیو برخو او سویلي سیمو کې خپل کورونه پرېږدي او دغو دوو ولایتونو ته د مرستې ترلاسه کولو یا هم په بازار کې د مزدورۍ او دندو پیداکولو په موخه د بیا مېشت کېدنې لپاره راځي (منسفیلډ، ۲۰۲۱)، دغو ولایتونو ته د ۲۰۲۱ز کال د جون او جولای په میاشتو کې تر ټولو زیات خلک د بیا مېشت کېدنې لپاره راغلي. د ۲۰۲۱ز کال په لومړی نیمايي کې په هېواد کې د جګړو زور اخیستنې له وجې کندهار او هرات دواړو ولایتونو په لوړه کچه امنیتي پېښې هم تجربه کړې: د ۲۰۲۱ز کال د فبرورۍ په میاشت کې د اسلام قلعه په لوی بندر کې اورلګېدنه رامنځ ته شوه، چې کسبګرو او سوداګرو ته یې په میلیونونو امریکايي ډالر زیان واړوه. په جولای میاشت کې په هرات ولایت کې د ملګرو ملتونو سازمان پر دفتر برید وشو، چې راپورنه یې په نړیوالو مطبوعاتو کې خپاره شول. د کندهار امنیت بیا کرښې ته په څېرمه پراته ښارګوټي سپین بولدک کې ډېر تربنګلی شو او د راپورونو له مخې شاوخوا ۱۰۰ کسان په بېلا بېلو امنیتي پېښو کې ووژل شول (الجزیره، ۲۰۲۱). په دواړو ولایتونو کې ورځنۍ جګړو، تښتونو چې زیاتره یې سوداګر او کسبګر یا هم د دوی خپلوان په نښه کېدل او د پیسو لپاره تښتول کېدل زور اخیستی و او بالاخره کندهار او هرات دواړه ولایتونه د ۲۰۲۱ز کال د اګست په ۱۳مه نېټه په بشپړ ډول د طالبانو لاس ته ولوېدل. تر یادې نېټې د مخه هم طالبانو د دواړو ولایتونو سرحدي سیمې او زیات شمېر ولسوالۍ په خپل کنټرول کې لرلې.

په افغانستان کې بل سردردی اوږدمهاله وچکالي ده، چې تر ډېره بریده له اقلیمي بدلون سره تړلې ده. د ۲۰۲۱ز کال وچکالي په رسمي ډول د ۲۰۲۱ز کال په جنورۍ کې د مخکني جمهور رئیس له خوا اعلان شوه. دا په تېرو څلورو کلونو کې دویمه سخته وچکالي ده. په پایله کې اټکل دا و، چې د غنمو محصولات نېږدې دوه میلیونه ټنه راکم شي او نېږدې درې میلیونه مالداري د خوراک او اوبو د کمښت له وجې له خطر سره مخ ښودل شوې وه. دا وضعیت له سختو جګړو سره یوځای، چې مخکې مو یادونه وکړه، په پراخه کچه د کورنیو بې‌ځایه کېدو لامل شو او د ۲۰۲۱ز کال په لومړی نیمايي کې شاوخوا ۶۰۰،۰۰۰ وګړي د سختو جګړو او وچکالۍ دواړو له کبله بې ځایه شول. (IFRC,۲۰۲۱).

۳ . ډایلي افغانستان (Daily Afghanistan) (۲۰۲۱) د ۲۰۲۱ کال د جنورۍ په ۲۱ نېټه راپور ورکړ، چې د ملي دسترخوان پروګرام د هېواد په ځینو برخو کې د طالبانو له لوري په نښه شوی دی. ډایلي د طالبانو د ویاند له قوله لیکلي وو، چې: د دې پروګرام لپاره زموږ شرط دا دی، چې باید له موږ سره په دې اړه همغږي وشي، روڼتیا باید په کې موجوده وي، اړمن خلک باید د بې پرو اشخاصو له خوا په ګوته شي او د مرستو وېش هم باید د همدې بې پرو خلکو له خوا وشي. که چېرې دا شرطونه په پام کې ونه نیول شي، د غلا او فساد امکان شته، او موږ به اجازه ورنه کړو. http://dailyafghanistan.com/ ۱۵۵۳۶۵=national_detail.php?post_id


## د ژوند تېرولو ستراتيژۍ

د کوېډ-۱۹ وبا خپرېدو، سختې ناامنۍ او اقليمي بدلون د ژوند تېرولو په ستراتيژيو کې بدلونونه راوستي. په تېرو څو کلونو کې ان تر وبا د مخه، دواړه ولايتونه په پلازمېنه کابل کې د کم سياسي نفوذ لرلو دغه راز د سختې وچکالۍ له وجې ډېر سخت اغېزمن شوي دي، ان تر دې چې په کندهار کې د محصولاتو موسم له څلورو فصلونو څخه دوو ته راکم شوی. د دې ترڅنګ، په دواړو ولايتونو کې د وچکالۍ او منابعو ته د کم لاسرسي د اغېزو راکمولو په موخه زياترو کورنيو د کرنيزو او غيرکرنيزو دواړو منابعو په ګډون په خپلو عايداتي سرچينو کې تنوع رامنځ ته کړې، چې د ببلګې په ډول کډوالۍ او ورځنۍ اجورې کارونو ته اشاره کولای شو. د تېرو کلونو په ترڅ کې د کندهار په پرتله له هرات څخه ډېر خلک ايران ته کډوال شوي. د دې کډوالۍ وجه تر ډېره د خپلو مخکنيو پورونو ادراينه يا هم د وچکالۍ په وړاندې غبرګون دی. برعکس، د کندهار اقتصاد بيا د بيارغونې مرستو نغدي پيسو جريان له وجې ډېر وغوړېده، چې د ياد ولايت اقتصاد يې په ډېره لوړه کچه ببرته راژوندی کړ(هوت او نور.، ۲۰۱۶).

په دې دوو ولايتونو کې د عوايدو نورې معمول سرچينې د ښځو په بټيو، ودانۍ جوړولو، په کرنيز بازار کې موسمي کارونه، د ورځنيو اړتياوو په موخه د سبزيجاتو پلورل، په مؤسساتو دغه راز په خصوصي او دولتي سکتورونو کې کار کول دي. د دې ترڅنګ په دغو ټولو بازارونو کې هم د پام وړ کموالی رامنځ ته شوی او زياتره وختونه خلک ان د ورځنۍ اجورې کارونه هم په ډېرې سختۍ مومي. پردې سربېره، د کوېډ -۱۹ له پيل را په دېخوا ايران ته کډوالي ډېره په سردردۍ او خطر بدله شوې. له دې کبله په دواړو ولايتونو کې د ژوند تېرولو ډول، د عوايدو سرچينې او د ژوند بڼې کاملاً بدلون موندلای.

بناً، څرنګه چې له ۲ انځور معلومېږي، په افغانستان کې هم‌مهاله بحرانونه لکه څنګه چې په پورته دواړو ولايتونو کې تر سترګو شوي، د لا ډېرې کډوالۍ او کورنۍ بې‌ځايه کېدو، دندې محدوديتونو او کموالي دغه راز بازار او منابعو ته د لاسرسي د کموالي لامل ګرځېدلي دي.

۱ انځور: په کندهار او هرات کې هم‌مهاله بحرانونه او کليوالي ژوند




*سرچينه: ليکوالان*

# میتودونه او تګلارې

## د کیفي اطلاعاتو راټولول او تحلیل

کندهار او هرات ولایتونه د کوېډ-۱۹ د خپرېدو، ناامنۍ، اقلیمي بدلون دغه راز د مخکنیو څېړنو په برخه کې د عملي ملاحظاتو له وجې د ساحوي څېړنې لپاره ټاکل شوي دي. د مخکنیو څېړنو په برخه کې د عملي ملاحظاتو په تړاو د یادونې ده، چې څېړونکو له وړاندې په دغو ساحو کې د ژوند تېرولو پر لارو چارو په مخکنیو کلونو کې څېړنې کړې دي (پین، هویت او غفوري، ۲۰۱٦؛ هوت او غفوري، ۲۰۱٦؛ پین او هوت، ۲۰۱۷)، له دې وجې یادې څېړنې یوه داسې قاعده وه چې له موږ سره یې د خپلو نویو اطلاعاتو او تحلیلونو په بډاینه کې ډېره مرسته وکړه.

د کیفي اطلاعاتو وسیلې د کیفي مربع (Q-squared) تګلارې یوه برخه جوړوي چې د اوږدمهالې ښوزلې مشورتي شبکې له لوري د ښوزلې او سوکالۍ پر متحرکاتو د څېړنې لپاره ترې  ګټه اخېستل شوې وه (په لنډیز کې وګورئ: دا کورتا او نور، ۲۰۲۱). دا تګلاره د دې لپاره غوره شوې وه چې موږ ته د څېړنې مهمې پوښتنې په لاس راکړې او په دې پوښتنو کې ټول تمرکز باید د سوکالۍ پر وضعیت، د هغې پر متحرکو عواملو او د ژوند تېرولو پر هغو  لارو چارو وي، چې سوکالي او د سوکالۍ متحرکات یې اغېزمن کړي. په کیفي تګلاره کې په کندهار او هرات ولایتونو کې له مهمو باخبره خلکو سره مرکې، او په دې ولایتونو کې له ښځو او سړیو سره د ژوند داستان مرکې (Life history interviews) شاملې وې. له مهمو خبره خلکو سره مرکې د دې لپاره شوې دي، چې د ښلا ښلو بحرانونو په ترڅ کې اړوند شرایط راوسپړل شي، دغه راز عملي او د پالیسۍ محدودیتونه او په دغو سیمو د ژوند تېرولو جوګه کوونکي لارې چارې هم ترې راوسپړل شي، پردې سربېره دا هم جوته شي چې څنګه دغه شرایط د بحراني وضعیت پرمهال په پام کې ونیول شي. د ژوند داستان مرکې په خپل وار سره بیا د دې لپاره په پام کې نیول شوې وې، چې د بحرانونو پر ژورو اغېزو پوه شو او هغه عوامل یا پروسې ترې راوسپړل شي د کومو له لارې چې افرادو او کورنیو په خپله سوکالۍ کې بدلونونه تجربه کړي او دغو بدلونونو بیا په خپل وار سره پر خلکو او کورنیو څه اغېزې کړې او برعکس دا هم معلومه شي چې پر دغو بدلونونو بیا د ژوند د لارو چارو  اغېزې څه وې. په مرکو کې جنسیتي توازن ته هم پام شوی، څو د ښځو او سړیو په لیدلورو کې مشترک ټکي او توپیرونه په ګوته شي. د ژوند داستان مرکو یوې کوچنۍ ډلې ښېرته له هغو کورنیو سره بیاځل ولیدل، چې په پخوانیو څېړنو کې د ژوند پورتنیو لارو چارو په اړه ورسره مرکې شوې وې. دا بیا ځل لیدنې په دې موخه شوې دي، څو د وخت په اوږدو کې د دوی په سوکالۍ کې رامنځ ته شوي تغییرات په زیاتو جزئیاتو راوسپړل شي، په داسې حال کې چې یو اساس یې مخکې له مخکې اېښودل شوی و.

زموږ له خوا ترتیب شوی پوښتنلیک د کابل ولایت په یوه لېرې پرته کلیوالي سیمه کې مخکې له مخکې په  ازمایښتي بڼه عملي شوی. د ازموینې ساحه په یاد پړاو کې د امنیت، روغتیا او امکان شرایطو له مخې انتخاب شوې وه، چې په ۲.۲ برخه کې په جزئیاتو ورته اشاره شوې. د ازموینې په پروسه پسې د څېړنې ټیم یو ځای سره راټول شو څو د ازموینې پایله وارزوي. که څه هم نتایج یې تر ډېره مرستندویه وو، خو څېړونکي د شرایطو د تنوع او د څېړنې ساحو خاصو ښلوونکو ځانګړنو په اړه پوهېدل، چې په کابل کې د یوې نمونې له لارې په بشپړ ډول نه شي راسپړل کېدای.

کیفي اطلاعات د ۲۰۲۱ز کال له جون بیا د جولای تر وروستیو راټول شوي دي. د زیاترو برخو لپاره مرکې په حضوري بڼه ترسره شوي دي، او په ځینو حالاتو کې بیا تربنګلو امنیتي شرایطو ته په پام د ټیلیفون پر کرښه او د کورنیو نارینه غړو په مرسته په کورونو کې له ښځو سره مرکې ترسره شوي دي. څېړونکو پلان شوي مرکې په کندهار او هرات ولایتونو کې د انتخاب شویو کورنیو له ښځینه او نارینه دواړو غړو سره د ۲۰۲۱ز کال د جون او جولای په نیمایي کې بشپړې کړې دي. په دواړو ولایتونو کې ۳۷ مرکې (۲٦ له نارینه وو او ۱۱ له ښځینه وو) سره ترسره شوې دي. له دې ډلې اته مرکې له داسې نارینه او ښځینه وو سره شوې، چې په کور د ننه بې ځایه شوي خلک وو، ۲۰ مرکې د کورنیو په کچه وې او نهه مرکې له هغو خبره اشخاصو سره وې، چې د عمل په ډګر کې ډېر فعال و او د نادولتي مؤسساتو کارکوونکي، کسبګر او نور خلک وو.

دا اطلاعات په خپل وار سره بیا د (NVivo) له لارې او د اوږدمهالې ښوزلې مشورتي شبکې له لوري د رامنځ ته شوي کوډېنګ چوکاټ په مرسته کوډ شوي دي، څو د کورنیو منابع، پانګې، فعالیتونه او ټکانونه معلوم شي. د کوډېنګ چوکاټ د افغانستان له شرایطو سره په مطابقت کې په پام کې نیول شوی و، څو د منځپانګې او شرایطو دواړو له تړاو ډاډ ترلاسه شي. د بېلګې په توګه په دې برخه کې له ناامنۍ سره تړلو خنډونو، د پلار واکۍ یا نارینه وو حاکمیت اړوند نورمونو او جنسیتي لیدلورو، دغه راز د پېچلو بحرانونو موجودیت او د دې بحرانونو په وړاندې د مقابلې ستراتیژیو ته پاملرنه شوې ده. د کوډېنګ تحلیلونو ترڅنګ د پروسو موندنو میتودونه هم په کار اچول شوي،

څو هغه اغېزې راوسپړل شي د کومو پر مټ چې ځينو افراد او کورنۍ په دې توانېدلي وې چې د خپل ژوند تېرولو لارو چارو په وړاندې په داسې ډول مقاومت له ځانه وښايي چې خپله سوکالي وساتي، په داسې حال کې چې ځينې نور افراد او کورنۍ بيا د بدېلونو نشتوالي له وجې د سوکالۍ ساتلو پرځای د غربت خوا ته ټېل وهل شوي وې.

## د کوېډ-۱۹ پرمهال له اطلاعاتو کمې ليدلوري

د ژورو کيفي اطلاعاتو پر راټولولو سربېره، چې پاس مو ورته اشاره وکړه، موږ په دې هم توانېدلي يو چې د عوايدو، لګښتونو او کاري ځواک سروې ۲۰۱۹/۲۰۲۰ له ارقامو هم ګټه پورته کړو، څو په افغانستان کې بېوزلي او د سوکالۍ له لاسه ورکول په کمي ډول هم تحليل کړو. دا سروې د ۲۰۱۹ز کال سپټمبر او ۲۰۲۰ز کال اګست ترمنځ شوې ده، له دې کبله د کوېډ-۱۹ له لومړنيو مياشتو سره هممهاله وه. دا سروې نه يوازې دا چې په ملي او ولايتي کچو د خلکو وضعيت استازيتوب کوي، بلکې د دې سروې طبقه بندي په داسې بڼه شوې ده چې د موسم له مخې هم تحليلونو ته لاره هواروي (د احصاييې او معلوماتو ملي اداره، ۲۰۲۱) او په همدې ډول د کوېډ-۱۹ پرمهال د سوکالۍ بدلونونو په ارزونه کې هم مرسته کوي. د کمي اطلاعاتو ټولګه له اړوند حکومتي ادارې په بشپړ رضايت ترلاسه شوې ده.

د عوايدو، لګښتونو او کاري ځواک سروې له مخې د بېوزلۍ او سوکالۍ يو ابتدايي تحليل په ديواکار (۲۰۲۲) کې وړاندې شوی دی. دا تحليلي موډل په لومړيو کې پر يو لږ لوجستيکي منحني متکي دی، څو د بېوزلۍ او سوکالۍ له لاسه وورکولو هغه مهم متغييرات  په کې راوسپړل شي، چې افغان وګړو تجربه کړي دي. څرنګه چې په ديواکار (۲۰۲۲) کې اشاره ورته شوې ده، زموږ لوجستيکي منحني د دې لپاره کارول شوې چې د بېوزلۍ او سوکالۍ انسجام پرې راوسپړل شي:

دا چې په اول موډل کې د کورنيو احتمال د بېوزلۍ تر کرښې لاندې دی، او د سروې په وروستي کال کې په دويم موډل کې کورنۍ د سوکالۍ راټيټېدو احتمال تجربه کوي، نو د کورنۍ سرپرست (Head) د هغو متغييراتو ويکتور بلل کېږي، چې د کورنۍ د سرپرست ځانګړني بيانوي، او زون (Region) د هغو فرضي متغييراتو ټولګه ده، چې د کورنيو د استوګنې سيمه په ګوته کوي، او H د کورنيو د مشخص کنټرول ويکټور دی.

د دې ترڅنګ موږ د مرستندويه متغييراتو يوه ټولګې ته هم يو تر بله تطابق سره ورکوو، څو د توزيع منحني په اوږدو کې بدلېدونکې اړيکې په لا ډېرو جزئياتو راوسپړو. د بېوزلۍ او سوکالۍ بايللو په محور او د ځوانانو د سوکالۍ په محور کې د پېچلو فشارونو تحليل، چې دواړه په ديواکار(۲۰۲۲) کې هم راسپړل شوي، په دې مقاله کې يې لنډيز وړاندې شوی. د يادونې ده، چې کمي تحليلونه د هېواد په ګوټ ګوټ کې د بېوزلۍ زياتوالي او سوکالۍ له لاسه ورکولو يو کلي تصوير وړاندې کوي.

## تکرار او د اطلاعاتو مطابقت

تر  کومه بريده چې ممکنه وه، موږ له دې ډاډ ترلاسه کړی چې د کيفي او کمي اطلاعاتو له څېړنې ترلاسه شوې موندنې يو تر بله تطابق لري. دا کار د هغو لارو چارو، ميتودونو او بحثونو  پر مټ شوی چې له موندنو راڅرګند شوي دي. د بېلګې په توګه په دې مطالعه کې د کيفي اطلاعاتو لپاره کارول شوې لارې چارې له هغه ګډ ټيم سره په نږدې همکارۍ رامنځ ته شوې دي، چې له ساحوي څېړونکو، چا چې د کيفي اطلاعاتو راټولول پرغاړه لرل او دغه راز هغو څېړونکو جوړ شوی و، چې د کمي اطلاعاتو د تحليل مسووليت يې پرغاړه و. په دې توګه د کيفي اطلاعاتو لارو چارو داسې عناصر په ځان کې لرل چې له ډېری اړخونو د کمي اطلاعاتو له منځ راکښل شوي و، څو ډېر دقت په کې وشي. د ساحوي څېړنو تر بشپړېدو وروسته له ټولو څېړونکو سره غور کوونکي ناستې شوې دي څو له دې څېړنو پر راپورته کېدونکو موضوعاتو بحث وشي او په عين حال کې پر هممهاله بحثونو هم تمرکز وي، بيا ورپسې په کمي تحليل کې دا موضوعات لا ډېر راسپړل شوي. د بېلګې په توګه کيفي اطلاعاتو د ناامنۍ او اقليمي بدلونونو اړوند ټکانونو او فشارونو په دوران کې پېچلو ټکانونو او فشارونو ته اشاره کړې ده. دا موندنې بيا په خپل وار سره د غبرګوني څېړنې په کمي اطلاعاتو کې هم پوښتل شوي دي (ديواکار، ۲۰۲۲). دې تکرار د کيفي اطلاعاتو له دوو ساحو د موندنو جزئيات د دې جوګه کړل چې د افغانستان په کچه د کمي اطلاعاتو پر تحليل تعميم شي.

له دې سره سره، بيا هم زموږ تګلارې له محدوديتونو سره مخ وې. لومړی، د کمي اطلاعاتو ټولګه چې په دې مقاله کې مراجعه ورته شوې ده د ۲۰۱۹ز کال له منځنيو بيا د ۲۰۲۰ز کال تر منځنيو پوروې دوره رانغاړي، په داسې حال کې چې کيفي اطلاعات بيا په ورپسې کال کې (د ۲۰۲۱ز کال له اپرېل تر جولای) پورې تر سياسي بدلون د مخه راټول شوي دي. دا په تېره بيا په کوېډ-۱۹ کې بدلونونو او په تېرو دوو کلونو کې په افغانستان کې امنيتي شرايطو ته په  ته په کتو ډېر مهم محدوديت دی. دغه راز د کمي اطلاعاتو په ټولګه کې داخلي خطرات هم دي، چې پر کيفي ليدلورو زموږ د تکيې له لارې سره رايوځای شوي دي، ځکه د دغو پېچلو موضوعاتو او تعاملاتو په اړه زموږ د پوهاوي په پياوړتيا کې ترې کار اخيستل شوی. پردې سربېره، کمي تحليلونه تر ډېره بريده پر مالي معيارونو ولاړ دي، څو د

دې معیارونو په رڼا کې بېوزلي او د هغې متغییرات وارزول شي، په داسې حال کې چې په کیفي تحلیل کې بیا تر ډېره د سوکالۍ مفهوم له څو اړخیزې تګلارې ګټه اخېستل شوې ده. د دې ترڅنګ، دواړه تحلیلونه د ناامنۍ او اقلیمي بدلون پر ازادو معیارونو ولاړ دي، چې ښايي له واقعي پېښو سره توپیر ولري. دلته موخه دا ده، چې د دواړو میتودونو ترمنځ مستقیمه پرتله ونشي، بلکې یو د بل بشپړوونکې برخې وارزول شي او د هر میتود پر پیاوړو برخو او د هغوی پر پایلو تمرکز وشي. بالاخره، په کمي تحلیل کې د افغانستان بېلا بېلو ولایتونو په ترڅ کې د وضعیت پراخ تحلیل تر پوښښ لاندې راوستل شوی، په داسې حال کې چې په کیفي تحلیل کې بیا تمرکز په کندهار او هرات ولایتونو کې پر انتخاب شویو ساحو دی. د یادونې ده، چې په کیفي اطلاعاتو کې زموږ موخه دا نه وه، چې د هېواد یا هم ولایت تر کچې تعمیم ورکړل شي، بلکې موخه دا وه چې د هغو پروسو او لارو چارو په اړه ژور لیدلوري وړاندې شي، د کومو په ترڅ کې چې کورنیو په خپله سوکالۍ کې بدلونونه حس کړي او ترڅنګ یې دا هم معلومه شي، چې د دغو بدلونونو لاملونه څه وو (دا کورتا او نور.، ۲۰۲۱).


# څو اړخیز بحرانونه او د خلکو غربت

دا برخه د پورتنیو څېړندوندونو تطبیق په داسې ډول بیانوي، چې پر هم مهاله بحرانونو او د هغو د مهارولو لپاره پر غوره شویو ستراتیژیو د څېړنې اغېزې راسپړي. د ترکیبي څېړندودونو له ارقامو څخه په لاس راغلي موندنې د اوږدمهاله غربت د لاملونو داسې لړۍ په ګوته کوي، چې پر کورنیو په درېیو کچو کې اغیز کوي. په لویه کچه موضوعات له درېیو سترو ننګونو سره تړلي. دا ننګونې د کوېډ- ۱۹ وبا، اقلیمي بدلون او هغه سیاسي بې ثباتۍ دي، چې د قدرت بدلون او جګړې د شدت لامل ګرځي. په ستره کچه موضوعات چې له کوېډ-۱۹، اقلیمي بدلون او سیاسي بې ثباتیو سره تړاو لري، د مرستندویه لاملونو داسې یوه ټولګه رامنځته کوي، چې د افغانستان خلک د بې ساري بېوزلي خوا ته ټېل وهي.

## د وبا پرمهال وچکالي او اقلیمي بدلون

د کمي اطلاعاتو تحلیل یو داسې محور ته اشاره کوي، چېرته چې د وبا میاشتو پرمهال ناورینونو، ناامنۍ او یو لړ منفي ټکانونو او فشارونو تر سروې په مخکې کال کې نه یوازې د بېوزلۍ په زیاتېدو کې مرسته کړې، بلکې د کورنیو له قوله د دوی د عوایدو په راکمولو کې یې هم ډېر رول اداء کړی دی(دیواکار، ۲۰۲۲). د بېلګې په توګه لکه څنګه چې په ۳ انځور کې ښودل شوي دي، له ناورینونو، کرنې یا د خوراکي توکو د قیمتونو له لوړېدو سره د تړلو ټکانونو له وجې په دوبي موسم کې چې کوېډ-۱۹ او ناامني دواړه زیات وو د بېوزلۍ کچې لوړېدو او سوکالۍ له لاسه ورکولو احتمال، د دغو ټکانونو د نه موجودیت دورې په پرتله خورا لوړ شوی و (دیواکار، ۲۰۲۲).

۲ انځور: د ناورین او موسم له مخې د سوکالۍ له لاسه ورکولو احتمال اټکل




*سرچینه: دیواکار (۲۰۲۲) د ۲۰۱۹/۲۰۲۰ز کلونو د عوایدو، لګښتونو او کاري ځواک سروې د ارقامو له مخې*

د کیفي څېړنې لپاره په انتخاب شویو ساحو یعنې کندهار او هرات کې هم د اقلیمي بدلون او بېوزلۍ ترمنځ پیاوړې اړیکه وه، چې په لومړي ګام کې یې وجه پر کرنه د متکي وګړو پر ژوند د اقلیمي بدلون اغېزې وې. د بېلګې په توګه وچکالۍ د اوبو په راکمېدو کې ډېر رول درلود، چې د کرنیزو فعالیتونو اصلي سرچینه ګڼل کېږي. په تېرو څو کلونو کې د وچکالۍ له وجې په کرنیز سکتور کې د کرونديږ محصولاتو او غنمو اندازه د تېرو پنځو کلونو په پرتله تر ټولو ټیټې کچې ته رسېدلې ده (اوچا، ۲۰۱۸)، چې دا کار د عوایدو نورو لارو چارو لکه ورځنۍ مزدورکارۍ او کډوالۍ خوا ته د مخ اړولو لامل ګرځېدلی دی. یو ځواب ویونکي وویل:

*د وچکالۍ او اوبو لګولو منابعو د کموالي له وجې ما خپل عواید له لاسه ورکړل. کوېډ-۱۹ هغه خلک خپلو دندو پرېښودو ته اړ کړل چې په کارخونو او نورو صنعتي شرکتونو کې یې کار کاوه، ځکه د کارخونو کارونه په ټپه ودرېدل. هغه عواید چې موږ له باندې ترلاسه کول، اوس په ټپه درېدلي. بالاخره، دې وضعیت زموږ پر ژوند او اقتصادي شرایطو ډېره سخته اغېزه کړې ده.*[۴]

له بلې خوا د کوېډ-۱۹ په غبرګون کې غوره شویو پالیسیو هم کاري بازار ته د هغو کورنیو لاسرسی راکم کړی، چې د ورځنۍ اجورې پر کارونو متکي وې. د دې ترڅنګ د پولو تړل کېدو او د سوداګریزو مرکزونو او سیمو تړل کېدو له وجې د خوراکي توکو قیمتونه هم لوړ شوي. د پالیسۍ اقداماتو پر هغو کورنیو د وبا منفي ټولنیزې – اقتصادي اغېزې لا پسې زیاتې کړې، چې له وړاندې د وچکالۍ له وجې کړېدلې. پردې سربېره، د ناورینونو رایوځای کېدو، دغه راز د کرنې او قیمتونو ټکانونو چې په کمې تحلیل کې ورته اشاره شوې ده، د کوېډ-۱۹ پرمهال د بېوزلۍ کچې له لوړېدو سره مرسته کړې ده. په هرات او کندهار ولایتونو کې د کیفي اطلاعاتو د تحلیل په ترڅ کې دا څرګنده شوه، چې د دغو ټولو ناورینونو او فشارونو رایوځای کېدو د هغو کارګرانو ورتیاوې محدودې کړې دي، چې د خپلو کورنیو یوازېنۍ ډوډۍ راوړونکي دي. د بېلګې په توګه یو ځواب ویونکي موږ ته وویل:

*وچکالۍ زموږ محصولات اغېزمن کړل او دا په تېره بیا په هرات ولایت کې یوه ستره ستونزه ده. بارانونه هم ډېر کم ورېدل. مانا دا چې د ژمي په موسم کې تر اپرېل میاشتې پورې موږ په هرات ولایت کې هېڅ باران نه درلود.*

همدې کس دا خبره هم تایید کړې، چې:

*اوسمهال د کرونا وبا داسې ستونزه ده، چې د خلکو عواید اغېزمنوي. ځینې وختونه بازار نبه وي، خو کله چې ناروغي زور اخلي او کرنتین وضع کېږي، نو بازارونه تړل کېږي، چې د خلکو په تېره بیا د کروندګرو او مالدارانو اقتصاد یې سخت اغېزمن کړی دی. کله چې موږ خپل لبنیات بازار ته وړو، په دې پوهېږو، چې کله د کرونا وبا زیاتیږي نو تقاضا راکمیږي. ځکه خلک بازار ته نه راځي او د پېر او پلور تقاضا هم راکمیږي یا په بشپړ ډول صفر ته رسیږي.*[5]

## د بېثباتۍ او ناامنۍ زیاتوالی

پر پاسنیو موضوعاتو سربېره، د امنیتي وضعیت چټک بدلون، په تېره بیا د کرونا وبا پرمهال او په ځایي کچه د جرایمو زیاتوالي په کرنیز سکتور کې کارونه راکم کړل، چې لا له وړاندې د وچکالۍ او خوراکي توکو د قیمتونو لوړېدو له وجې هم اغېزمن شوي وو. د دې ترڅنګ، سیاسي بې ثباتۍ او د رژیم بدلون اقتصادي سکتور بېثباته کړ او عواید دغه راز کاري فرصتونه یې راکم کړل، پردې سربېره یې د غلاجاتو او مېوو بازارونو ته هم په ملي او نړیواله کچه لاسرسی محدود کړ. بالاخره دې ټولو په ګډه لا ډېر غربت ته لاره هواره کړه.

یو ځواب ویونکی په دې اړه غږېدلی، چې دغو بېلا بېلو ټکانونو څه ډول د خوراکي ناامنۍ په لوړېدو، اقتصادي ځوړتیا او د مړینې شمېر په زیاتوالي کې مرسته کړې ده:

*کرونا وبا د خلکو روحیات ډېر سخت اغېزمن کړل او تر ډېرو فشارونو لاندې یې راوستل. پردې سربېره، د کرونا پرمهال دلته ناامني زیاته شوې ده... په تېر یو کال کې غلاوې، شوکې او نور جرمي فعالیتونه تر لوړې کچې رسېدلي. پخوا زموږ د سیمې امنیت تر دې بریده خراب نه و. د کلي په کچه خلک له نورو موبایل ټلیفونونه پټوي.. اقتصادي وضعیت، ناامني، وچکالۍ او د کاري فرصتونو کموالي ته په کتو نبایي زموږ په منځ کې داسې کسان هم وي، چې له لوږې مړه شوي وي.*[6]

۴ . اسناد، مرکه، ۰۵مه شمېره، سردار، نارینه، هرات ولایت.

۵ . اسناد، مرکه، ۱۷مه شمېره ، محمدخان، نارینه، هرات ولایت.

٦ . اسناد، مرکه، ۰۲مه شمېره، احمد، نارینه، هرات ولایت.


د ناامنۍ اغېزو او په ځايي کچه د جرايمو زياتوالي نه يوازې دا چې د کروندګرو کاري څرخ له خنډ او ځنډ سره مخ کړ، بلکې بازار ته يې د دوی لاسرسی هم محدود کړ. په پايله کې کروندګر د دې جوګه نه و، چې خپل محصولات پر وخت وپلوري. دا کار د دوی د عوايدو راکمېدو او په ځينو حالاتو کې د خپلې پانګې له لاسه ورکولو لامل ګرځېدلای. په ځايي کچه د کوېډ- ۱۹ ګرځبنديز له وجې د خوراکي توکو پر سوداګرۍ د محدوديتونو له کبله د خلکو پر ژوند او د ورځنيو اړتياوو پوره کولو لپاره بازار ته د دوی پر لاسرسي لا ډېر فشارونه رامنځ ته کړي دي او تر ټولو مهمه دا چې د دوی ورځني کارونه يې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي دي:

> *د کرونا له خپرېدو وروسته د پټرولو يو لېټر قيمت ۵۷ افغانۍ ته لوړ شو. کله چې موږ له هټۍوالو د قيمتونو لوړېدو په اړه پوښتنه کووه، دوی وايي چې پولې تړلې دي. د هېوادونو ترمنځ لېږد رالېږد په ټپه درېدلی، چې پر وارداتو او صادراتو دواړو يې اغېز کړی. له دې کبله قيمتونه ورځ تر بلې لوړيږي.*[۷]

له دې ورهاخوا، د خوراکي توکو پر کمښت د لاسبري کېدو او لاسرسي لپاره د هېواد په ځينو برخو کې حکومت د شپې له خوا د بازارونو پرانېستل کېدو ته اجازه ورکړې وه. خو همدې ځواب ويونکي بيا د شپې له خوا په بازارونو کې د خراب امنيتي وضعيت په اړه اندېښنه ښودلې ده. د نوموړې له انده دې کار دا وېره رامنځ ته کړه، چې سوداګر به ډېر کم دې ته زړه ښه کړي، چې د دوی سيمو ته ورشي، چې دا کار پر ځايي بازارونو لا ډېر فشار زياتوي.

دا حالات موږ د کندهار او هرات ولايتونو په کيفي اطلاعاتو کې هم مشاهده کړې دي، ترڅنګ مو د کوېډ-۱۹ پرمهال د ناامنۍ او سوکالۍ له لاسه ورکولو ترمنځ پياوړې اړيکه د ټول هېواد په کچه موندلې ده. پردې سربېره، ۴ انځور دا راښيي، چې هغه کورنۍ چې د هېواد په ناامنو ولسواليو کې اوسيږي د ۲۰۲۰ز کال په دوبي کې څه وخت چې د کرونا وبا د پيل مياشتې وې، د هغو خلکو په پرتله چې د هېواد په امنو سيمو کې اوسېدې د سوکالۍ له لاسه ورکولو کچه يې خورا لوړه وه. پاسني کيفي اطلاعات په ډاګه کوي، چې د کوېډ- ۱۹ له وجې د قيمتونو په نوسان کې دې ناامنۍ هم ملتيا کړې ده، له دې معلوميږي چې د کمې اطلاعاتو په تحليل کې د قيمتونو د ټکان چينل چې پورته مو خبرې پرې وکړې، د ناامنۍ پر منځپانګه هم د تطبيق وړ دی.

۳ انځور: د ناامنۍ او موسم له مخې د سوکالۍ له لاسه ورکولو احتمال اټکل




*سرچينه: ديواکار (۲۰۲۲) د ۲۰۲۰/۲۰۱۹ز کلونو د عوايدو، لګښتونو او کاري ځواک سروې د ارقامو له مخې*

د اقليمي بدلون، ناامنۍ او وبا هم مهاله منځ ته راتګ چې پورته مو خبرې پرې وکړې، داسې ګڼ شمېر فکتورونه رامنځ ته کړي چې د کورنيو عايدات يې وچ کړي او د بېوزلۍ له زياتوالي دغه راز د سوکالۍ له لاسه ورکولو سره يې مرسته کړې ده. پردې سربېره، په داسې حال کې چې د ۲۰۲۰/۲۰۱۹ز کال د سروې له مخې د بېوزلۍ کچه ۴۷.۱ سلنه وه، خو د کرونا وبا د پيل پرمهال په پسرلي موسم کې

۷ . اسناد، مرکه، ۰۹مه شمېره ، رسول، نارينه، هرات ولايت.

ډېره لوړه شوه او ان ۵۲.۳ سلنې ته پورته شوه. د خلکو له قوله د کرونا پرمهال د سوکالۍ له لاسه ورکول هم په ډېره لوړه کچه وو. د بېلګې په توګه هغه کسان چې د ۲۰۲۰ز کال په دوبي کې خبرې یا مرکې ورسره شوي دي، ۳۴.۳ سلنه خلکو دا ویلي، چې د تېر کال په پرتله یې اقتصادي وضعیت خراب شوی دی. برعکس، د ۲۰۱۹ز کال په مني موسم کې یوازې ۱۹.۷ سلنه خلکو بیا ویلي و، چې د دوی اقتصادي وضعیت د تېر کال په پرتله خراب یا ترېنګلی شوی دی.(دیواکار، ۲۰۲۲).

# د سوکالۍ غوړېدا لپاره د ځوانانو په لاس کې محدود فرصتونه

د دې ډول هممهاله بحرانونو شرایطو په ترڅ کې بېوزله یا هم بېوزلۍ ته نېږدې ځوانان له یو شمېر داسې ننګونو سره مخ شوي، چې په اوس او راتلونکې کې د دوی د سوکالۍ په لار کې خنډ ګرځېدلې دي.

## د اجورې کارونو کموالی

په افغانستان کې د کورنیو ځوان سرپرستان په ټوله کې ډېر متحرک دي او تر ډېره بریده په تنخوا لرونکو کارونو بوخت دي، ترڅنګ یې د دوی لپاره د تکیې وړ لارې چارې هم ډېرې کمې دي. دا ټول هغه عوامل دي، چې د سویلي آسیا په ګډون د نړۍ په پراخه برخه کې له بېوزلۍ د وتلو لپاره ډېرې مهمې لارې چارې ګڼل کېږي (دیواکار او شیفرډ، ۲۰۲۲). په ورته وخت کې که څه هم دا متغییرات ډېر مهم دي، خو د کوېډ-۱۹ وبا د خپرېدو میاشتو پرمهال د پالیسۍ اقداماتو له وجې دا قشر له ډېر خطر سره مخ و. پردې سربېره، یوه ستره ننګونه چې د وبا میاشتو پرمهال د دوی په وړاندې راپورته شوې وه، هغه د کاري فرصتونو نشتوالی و. له یو پر دریمه برخه یو څه کمو هغو کسانو چې د کورنۍ سرپرستي ورترغاړې وه د ۲۰۱۹/۲۰۲۰ز کلونو پرمهال له سروې یوه اونۍ د مخه کومه بوختیا نه لرله. په دې ډله کې هغه کسان چې د کار په لټه کې نه وو، د خپلو خبرو لپاره یې ګڼ شمېر دلایل لرل. د کورنیو هغه سرپرستان چې ځوانان و، په خپلو خبرو کې یې د دندو کموالی په کار پسې د نه ګرځېدو یو عمده دلیل یاد کړی دی. دا کارونو دا نشتوالی د کورنیو ټولو سرپرستانو په منځ کې هم دویم عمده دلیل و، چې د کوېډ-۱۹ پرمهال له همدې وجې په کار پسې نه ګرځېدل. پردې سربېره، ۱۷ سلنه د کورنیو هغه سرپرستان چې ځوانان و او د ۲۰۱۹/۲۰۲۰ز کلونو پرمهال په کار پسې نه ګرځېدل د کارونو لنډمهاله ځوړتیا یې په خپلو خبرو کې د دلیل په توګه یاده کړې ده (دیواکار، ۲۰۲۲).

په کیفي اطلاعاتو کې هم دا جوته شوې، چې کوېډ -۱۹ تر ډېره بریده په ښاري او کلیوالي دواړو سیمو کې د ځوانانو کارونه او کاري فرصتونه ټکني کړي دي. د ورځنۍ اجورې کارګرانو کاري بازار ته لاسرسی نه شو کولای. هغو خلکو چې په صنعتي سکتور کې یې کار کاوه، د ګرځېدنديز له وجې نه شول کولای چې کار ته لاړ شي. د معمول له مخې کروندګرو هم نه شول کولای چې خپل محصولات وپلوري او دې کار پر ستونزمنو شرایطو د دوی برلاسي کېدل رامحدود کړي وو. د دې ترڅنګ، یوازېنۍ ساحه چې کاري فرصتونه په کې وو، هغه کرنیز سکتور و، په داسې حال کې چې کرنیز سکتور ډېر محدود ظرفیت درلود او یوازې د کورنۍ مشران په دې سکتور کې بوخت وو. ښار ته په نېږدې سیمو کې د خلکو لپاره موجود بدیلونه ورځنۍ کار، د خښتو په بټیو او ودانیزو برخو کې کار کول و، هغه هم که چېرې موجود وو. ځینې ځواب ویونکي چې پاخه ځوانان وو په اونیو اونیو د کارونو له نشتوالي سر ټکاوه. د دوی لپاره د ژغورنې او ژوندي پاتې کېدلو یوازېنۍ لاره له ځینو مؤسساتو د ملاتړ او لاسنیوي ترلاسه کول و.

> *زموږ خپلې کورنۍ او ګاونډیانو چې په تولیدي کارخونو کې یې کار کاوه، دندې له لاسه ورکړې دي، ځکه کارخونې د کرونا له وجې بندې شوې دي. زه وزګار یم او زوی مې هم د دندې له لاسه ورکولو له وجې زما د اوږو اضافي پېټۍ (بار) ګرځېدلی.*[۸]

> *تر کرونا د مخه موږ تر ۲۵،۰۰۰ افغانیو میاشتنۍ معاش درلود. له کله نه چې ښوونځي تړل شوي، موږ پورتني عواید نه لرو او یوازې زه پاتې یم، چې ۷،۵۰۰ افغانۍ میاشتني عاید لرم. نو اوسمهال زموږ عواید ۷،۵۰۰ افغانیو ته راکم شوي دي.*[۹]

۸ . اسناد، مرکه، ۵مه شمېره ، سلام، نارینه، هرات ولایت.

۹ . اسناد، مرکه، ۷مه شمېره ، مقصود، نارینه، هرات ولایت.

*ما خپله دنده او معاش دواړه له لاسه ورکړل. ځکه زه ښوونکې وم، خو د کرونا له وجې د ښوونځیو تر تړل کېدو وروسته نور ماته معاش نه راکوي.*[10]

د جنسیت او بېوزلۍ له اړخه له کمې تحلیلونو ترلاسه شوې موندنې د هغو سیمو په ګډون چې د ناورینونو او ناامنۍ له وجې له هممهاله فشارونو او ټکانونو سره مخ وې، د کرونا وبا پرمهال په اقتصادي فعالیتونو کې د ښکېلتیا له مخې جنسیتي توپیرونو ته اشاره کوي. دا توپیر په اقتصادي فعالیتونو کې د نارینه وو د بوختیا راکموالي او په ناامنو سیمو او هغو سیمو کې چې د ناورینونو له وجې د ټکانونو سره مخ وې د ښځو حاشیوي زیاتوالي دواړو له کبله دی. په ورته وخت کې په دې ډول فعالیتونو کې د ښځینهوو بوختیا ښایي د محرومیت پروسو او د بقاء ستراتیژۍ یوه نښه وي، چې په کمه اجوره کار کولو ته یې هم زړه ښه کړی، نه دا چې دا کار دې د اقتصادي غښتلتیا له لارې له بېوزلۍ د وتلو لاره چاره وګڼل شي.[11] د دې ترڅنګ، لکه څنګه چې له کیفي اطلاعاتو معلومېږي، د سړیو په څېر زیاترو ښځو هم د وبا پرمهال خپلې دندې له لاسه ورکړې دي:

*زموږ په منځ کې داسې ښځې دي، چې د نورو خلکو په کورونو کې د کار کولو په څېر په بېلا بېلو صنایعو کې کار کوي. خو د ګرځبندیز پرمهال دوی کار نه کاوه او خپلې دندې یې له لاسه ورکړې. زموږ په منځ کې داسې ښځې هم دي، چې د کندهار بازار لپاره بېلا بېل توکي تولیدوي. کله چې بازار بند وي، دا ښځې نه شي کولای چې خپل محصولات وپلوري، نو دغو ښځو هم خپلې عایداتي سرچینې له لاسه ورکړې دي.*[12]

د کیفي اطلاعاتو له مخې په کندهار او هرات ولایتونو کې د څېړنې په ساحو کې زیاتره بېوزله یا بېوزلۍ ته نېږدې ځوانان په دې لټه کې وو، څود عوایدو نورې بدیلې لارې پیدا کړي، چې مخکې مو اشاره ورته وکړه. پردې سربېره، په زیاترو کورنیو کې ماشومانو هم د زړو اوسپنو، کاغذونو او پلاستیکونو راټولولو ته مخه کړې وه، څو په بازار کې د پلور له لارې د خپلې کورنۍ لپاره یوه مړۍ ډوډۍ پرې پیداکړي. هغه ښځې چې مخکې یې دندې لرلې خو اوس یې له لاسه ورکړې وې، یا یې په کروندو کې له خپلو نارینهوو سره کار کولو ته مخه کړې وه یا یې د خیاطۍ، ګلدوزۍ او نورو لاسي توکو په څېر عواید لرونکو فعالیتونو ته مخه کړې وه. د دوی لپاره له دې کارونو پرته د دندو کوم ځانګړی بازار نه و.

*زموږ د پلار تر مړینې وروسته، موږ په ژړۍ ولسوالۍ کې خپل کلی پرېښود او کندهار ته راغلو. کندهار ته په راتلو مو په ښار کې مزدوري او اهنګري پیل کړه. په واقعیت کې د کورنۍ مشر له لاسه ورکول پر هره کورنۍ له ټولنیز، اقتصادي او مالي اړخه منفي اغېزې کوي.*[13]

*په کندهار ښار په تېره بیا په ډنډ ولسوالۍ کې د ورځنۍ اجورې لپاره دایمي بازار د خښتو بټۍ دي.*[14]

*زه د خپلې کورنۍ لاسنیوی نه شم کولای. ځکه نه مې سپما کړې او نه هم د عاید کومه بله سرچینه لرم. اولادونه مې زړې اوسپنې، کاغذونه او پلاستیکي توکي راټولوي او په ورځ کې له ۴۰ تر ۵۰ افغانیو ترې په لاس راوړي.*[15]

اجباري کډوالي او پر ماشومانو کار د دې لامل ګرځېدلي، چې کورنۍ د کمې اجورې په مقابل کې هم سختو کارونو ته مخه کړي، چې د دوی اقتصادي سوکالۍ ته متوجه خطر په ګوته کوي.

۱۰ . اسناد، مرکه، ۸مه شمېره ، واجد، نارینه، هرات ولایت.

۱۱ . ویدیا دیواکار. (۲۰۲۲). د کوېډ۱۹، ناورینونو او بېوزلۍ په منځ کې د ځوانانو ژوند، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. ۲۰۲۲ اپرېل ۱۵مه. /pdf.working-paper۵-۱۹-Welfare-of-Young-Adults-amid-COVID/۰٦/۲۰۲۲/https://areu.org.af/wp-content/uploads

۱۲ . اسناد، مرکه، ۹مه شمېره ،قدوس، نارینه، کندهار ولایت.

۱۳ . اسناد، مرکه، ۱۲مه شمېره، ساجد، نارینه، کندهار ولایت.

۱۴ . اسناد، مرکه، ۱۹مه شمېره، ابراهیم، نارینه، کندهار ولایت.

۱۵ . اسناد، مرکه، ۴مه شمېره، کورنۍ بې‌ځایه شوې دلبر، نارینه، هرات ولایت.

## د منابعو کموالی

د کمي اطلاعاتو له تحلیل سره سم د بېوزلو کورنیو هغه سرپرستان چې ځوانان و له شتمنۍ هم تر ډېره محروم و. د دوی د لګښتونو د شتمنۍ ارزښت د پاخه عمر لرونکو سرپرستانو په پرتله چې عمر یې له ۶۵ کلونو کم و، له نیمایي هم کم دی. له ۶۵ کلنۍ د کم عمر لرونکو سرپرستانو په پرتله د بېوزلو کورنیو ځوانانو مالداري هم کمه وه، ترڅنګ یې د کرنې وړ ځمکه ډېره لږ وه او بریښنا ته یې هم ډېر کم لاسرسی درلود (دیواکار، ۲۰۲۲). په کیفي اطلاعاتو کې هم همدا موندنې تر سترګو شوې. ځوانانو معمولاً ځمکه نه لرله په تېره بیا په هغه حالت کې چې پلار یې ژوندی و. دا وضعیت معمولاً د ګډې کورنۍ جوړښت او د ګډ ژوند تېرولو عواید په ګوته کوي. په نورو حالاتو کې دا وضعیت پر نورو هغو خلکو هم د تطبیق وړ دی، چې نوي یې ځمکې ترلاسه کړې وې، د بېلګې په توګه:

> *زما زوم، چې په ایران کې اوسیږي ماته یې پیسې راولېږلې، څو کرنیزه ځمکه ورته واخلم. ما هم په خپل کلي کې د هغه لپاره کرنیزه ځمکه واخېسته. اوسمهال د نوموړې ځمکه زه په نیمایي کرم. نیمایي محصولات یې د هغه کېږي او نیم زما کېږي.*[16]

پردې سربېره، د کاري فرصتونو کموالي او د عایداتي سرچینو کمښت ځینې کورنۍ دې ته اړ ویستلي دي چې لا ډېرې خپلې سرچینې له لاسه ورکړي. هغو ځوانان چې ځمکه یې لرله، د کاري بازار د نشتوالي له وجې زیاتره دې ته اړ شوي وو چې د خپلو ورځنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره خپل کورونه په ګروي ورکړي:

> *زیاتره خلک چې پیسو ته اړتیا لري، خپلې ځمکې یا باغونه په ګروي یا هم اجاره ورکوي. د اقتصادي شرایطو ځوړتیا له وجې یوه ورځ مخکې فلاني خان خپل د انګورو باغ خپل خسر ته په ۹۰،۰۰۰ افغانۍ په ګروي ورکړ. نوموړي دا کار ځکه وکړ، چې د کمیاوي سرې او کورنۍ لګښتونو پوره کولو لپاره یې پیسو ته یې اړتیا لرله. نوموړي ویل، چې یو باغ تر ۵۰ پورې تاکونه لري او د هر تاک کلنۍ عواید تر ۱۰،۰۰۰ افغانیو پورې کېږي، معمولاً خلک یو باغ په ۹۰،۰۰۰ افغانۍ نه اخلي، خو ما دا باغ خپل اوښي ته ورکړ، له دې وجې هغه ماته په دې کلي کې له معمول اجارې زیاتې پیسې راکړې.*[17]

د مجبوریت له وجې د ملکیتونو پلور په تېره بیا په هغو حالاتو کې ډېر معمول دی، چې کله کورنۍ له روغتیایي ټکانونو سره مخ کېږي:

> *کله چې زما پلار ناروغ و، خپل ټول عواید مو د هغه پر درملنه ولګول. د دې ترڅنګ مو یو جریب ځمکه لرله، هغه مو هم د پلار درملنې لپاره وپلورله. پردې سربېره، موږ د انګورو تاکستان لرو، د هغه نیمایي برخه مو هم په ګروي ورکړه او اوس هم په ګرو کې دی. له مالي پلوه موږ ډېر کمزوري شوو او اوس پوروړي یو.*[18]

له دې ورهاخوا د اړینو خوراکي توکو د قیمتونو لوړېدو هم د خلکو د خوراکي توکو پر مصرف، ورځنیو خوراکي توکو لګښتونو او په ټوله کې پر سوکالۍ ډېرې سترې اغېزې لرلې، چې په تېره بیا په کلیوالي سمو کې د بېوزلۍ زیاتېدو او خوراکي ناامنۍ د لوړېدو لامل ګرځېدلې:

> *ام، دا به ښه نه وي چې زه تاسو ته ووایم چې پر کورنۍ مې څه تېرېږي، خو دومره درته ویلای شم چې مخکې موږ ډېر ښه خوراک کولای شو او لږ تر لږه په میاشت کې مو دوه ځلې غوښه خوړلای شوه، اوسمهال ان په میاشت کې یو ځل د غوښې خوړل هم ډېر ستونزمن دي. موږ باید زیاتره وخت پر کمو چایو او سبزیجاتو خپله ګوزاره وکړو.*[19]

په کمي ارقامو کې هم دا خبره جوته ده، چې ځوانان د پاخه عمر لرونکو سرپرستانو په پرتله ډېر له خوراکي ناامنۍ سره مخ دي(دیواکار، ۲۰۲۲).

---

۱۶ . اسناد، مرکه، ۱۵مه شمېره، وحید، نارینه، هرات ولایت.

۱۷ . اسناد، مرکه،۱۲مه شمېره، حفیظ، نارینه، هرات ولایت.

۱۸ . اسناد، مرکه، ۷مه شمېره، صدیق، نارینه، هرات ولایت.

۱۹ . اسناد، مرکه، ۱۶مه شمېره، ګل والي، نارینه، کندهار ولایت.

# د ټولنیزو شبکو کمزورې کېدل

د کورنۍ په کچه له بحران سره د مقابلې لپاره تر ټولو معمول ستراتیژي دا ده، چې د ټولنیزو شبکو پرمټ له کورنۍ او ملګرو پیسو ته لاسرسی پیدا شي. په دودیز ډول د مقابلې دې ډول ستراتیژۍ په افغاني ټولنه کې ډېر ښه ځای موندلای دی. د کوېډ -۱۹ پرمهال د اقتصادي شرایطو ځوړتیا، پولو تړل کېدو او په سیمه کې د ګرځبندیز ترڅنګ خلک له یو بل داسې وضعیت سره مخ شول چې دوی یې هېڅ تمه نه لرله. دا وضعیت ټولنیزو اړیکو او شبکو ته د خلکو لاسرسي راکمېدل وو. پخوا به چې خلک د خوراکي توکو له کمښت یا هم اقتصادي ځوړتیا سره مخ شول نو له ټولنیزو شبکو[۲۰] به یې ګټه پورته کوله او خپلې ستونزې به یې هوارولې؛ خو کوېډ-۱۹ دا شبکې او اړیکې هم پېکه کړې یا یې په بشپړ ډول له منځه یوړې او خلک یې له یو داسې ناڅرګند وضعیت سره مخ کړل، چې په ډېرې سختۍ پور ترلاسه کولای شي. په ډېرو کم شمېر حالاتو کې چې خلکو پورونه ترلاسه کړي، له ډېرو نېږدې خپلوانو لکه تره زامنو یا هم ورونو یې ترلاسه کړي دي. هغو ځوانانو چې پورونو ته یې لاسرسی نه درلود، په کرنیز سکتور کې یې کار کولو ته مخه کړې وه.

*هره خوا بېوزلي ده او وزګارتیا هم زیاته شوې ده. خلک یو له بل تمه نه لري، ځکه ټول بې روزګاره او بېوزله دي. که چېرې کوم څوک چا ته پیسې هم ورکړي، بیا په دې اړه فکر کوي، چې پوروړی به بېرته د هغه پور څه ډول اداء کړي. دا یو عمده دلیل دی، چې خلک یو د بل له لاسنیوي اوږې خالي کوي. د اړتیا پر وخت که کوم څوک له مالي اړخه ښه هم وي، یو له بل سره مرسته نه کوي، ځکه پور ورکوونکی داسې انګېري چې خپلې پیسې بېرته نشي ترلاسه کولای.*[۲۱]

*د خلکو مالي وړتیا ډېره راکمه شوې ده. موږ یو دود لرو، چې که چېرې کوم څوک ډوډۍ ته اړتیا ولري، د ګاونډي د حق په توګه موږ په سختو شرایطو کې د هغه لاسنیوی کوو. پردې سربېره، کرونا، ناامنۍ او وچکالۍ د خلکو مالي وړتیا راکمه کړې ده. خلک د خپلو ناروغانو درملنه نه شي کولای او یو بل ته له ۱،۰۰۰ تر ۲،۰۰۰ افغانیو په پور ورکوي، چې دا هم ډېره ستونزمنه ده. نبایي ډېر کم خلک خپلو نېږدې خپلوانو یا ملګرو ته پور ورکړي.*[۲۲]

له دې وجې د خلکو لپاره یوازېنۍ بدیل لاره د نارسمي پور ترلاسه کول دي. د دې کار لپاره زیاتره وخت دوی خپلې ځمکې په ګروي ورکوي او له همدې ستراتیژۍ د مقابلې په توګه کار اخلي. د دې کار پایله دا وي، چې باغونو ته د دوی لاسرسی تر ډېره وخته رامحدودوي او عواید یې راکموي.

د ځوانانو مهاجرت او د ټولې کورنۍ بې‌ځایه کېدل یا کډه کېدل هغه عمده عوامل دي، چې د خلکو ټولنیزې شبکې یې پېکه کړې دي.

*کله چې موږ هرات ولایت ته راکډه شوو، هرڅه بدل شول. ما دلته هېڅوک نه پېژندل. له دې وجې د اړتیا پروخت ما له کوم چا د مرستې یا پور غوښتنه نه شوه کولای. په تېرو پنځو یا شپږو میاشتو کې چې موږ دلته راغلي یو، زه یوازې د دې کلي ملک پېژنم. ځینې وختونه چې نوموړی کوم ورځنی کار پیداکوي، نو ماته وایي چې ورشم. له ده پرته مو په دې سیمه کې هېڅوک نه پېژني او زموږ له مالي وضعیت خبر نه دي.*[۲۳]

*زه ۲۷ کلن یم. پنځه کاله د مخه مې واده کړی دی. یو کال وړاندې زما پلار په شینډنډ ولسوالۍ کې ووژل شو. بالاخره زه د ژوند له ډېرو ستونزو سره مخ شوم. له هغه وخت راهیسې چې زما پلار له دې نړۍ سترګې پټې کړې، زه د کورنۍ ۱۰ غړو د پالنې مسوولیت لرم. اوسمهال د کار نشتوالي او کمزوري اقتصاد په ګډون له ډېرو ستونزو سره مخ یم. زه د دې سیمې له خلکو سره هم نه پېژنم، چې لاسنیوی مې وکړي او مرسته ترې وغواړم.*[۲۴]

۲۰ Shah, T. & Ghafoori, I. (۲۰۱۹). On Borrowed Time: The Limits of Informal Credit for Livelihood Security in Herat, Afghanistan. London: Secure Livelihoods Research Consortium. Retrieved March ۳۱, ۲۰۲۲, from https://areu.org.af/publication/on-borrowed-time-the-limits-of-informal-credit-for-livelihood-security-in-herat-afghanistan

۲۱ . اسناد، مرکه، ۸مه شمېره، محمد، نارینه، کندهار ولایت.

۲۲ . اسناد، مرکه، ۲مه شمېره،والي خان، نارینه، هرات ولایت.

۲۳ . اسناد، مرکه،۴مه شمېره، دلبر کورنۍ بې‌ځایه شوي، نارینه، هرات ولایت.


۲۴ . اسناد، مرکه،۱ شمېره، هستي ګل- کورنۍ بې‌ځایه شوي، نارینه، هرات ولایت.

# د مقابلې ترلې ستراتيژۍ

پورته بحرانونه او پر ځوانانو د هغوی اغېزې له نړيوالو  او ځايي غبرگونونو سره مل وې، خو دا غبرگونونه د دوی پېچلې ماهيت ته په کتو تر ډېره مناسب نه وو. که څه هم يو لړ نړيوالې او عملي مرستې وشوې، چې په دويمه برخه کې مو اشاره ورته وکړه، خو زموږ د څېړنې ټيم په عملي ډگر کې ډېر کم داسې شواهد موندلي چې دا مرستې دې واقعاً دغو خلکو ته رسېدلې يا دې د هغوی د درد دواء گرځېدلې وي. پراخ فساد، د هېواد په گوټ گوټ کې  د امنيتي شرايطو خرابوالی او تر يوه بريده د ولسمشر د دفتر له لوري د ملي دسترخوان پروگرام سياسي کېدل د دې لامل شول چې تر اگست مياشتې د مخه شرايطو کې د حکومت په مشرۍ او د تمويلوونکوو په مالي ملاتړ د کوېډ-۱۹ په وړاندې د اقداماتو پايلې پېکه شي. د يادونې ده، چې په هغه وخت کې چې دا ساحوي څېړنه کېده د حکومت وسله والو مخالفينو د کرونا يا وچکالۍ ځپلو ولسونو د لاسنيوي لپاره کوم مشخص اقدامات يا هم پروگرامونه په پام کې نه لرل.[۲۵]

په پايله کې د منفي ټکانونو او فشارونو په وړاندې د غبرگون په توگه ځينې وختونه کورنۍ د مقابلې داسې گڼ اړخيزو ځپونکو اقداماتو ته مجبورې شوې وې چې د دوی سوکالي يې لا نوره هم راکموله. لکه څه ډول چې په ديواکار(۲۰۲۲) کې ورته اشاره شوې ده، د ۲۰۱۹/۲۰۲۰ز کلونو پرمهال زياترو کورنيو په افغانستان کې خپل لگښتونه راکم کړل، چې دې کار په تېره بيا د کوېډ-۱۹ دورې پرمهال د دوی خوراکي ناامني لا پسې زياته کړه (۵ انځور). تر کرونا د مخه او د کرونا پرمهال په بېلا بېلو مياشتو کې د مقابلې ستراتيژيو ترمنځ نور توپيرونه په ولسي کچه د ټولنيزې پانگې راکمېدل او د کار اړوند ستراتيژيو زياتوالی و(ديواکار، ۲۰۲۲). پردې سربېره، د کار اړوند ستراتيژۍ په توگه په خپله کډوالي هم گرځېدليز او د پولو ترل کېدو ته په کتو له ډېرو محدوديتونو سره مخ وه.

۴ انځور: د کوېډ-۱۹ په دوره کې د منفي ټکانونو په غبرگون کې د کورنيو له خوا د مقابلې ابتدايي ستراتيژۍ




*سرچينه: ديواکار (۲۰۲۲) د ۲۰۱۹/۲۰۲۰ز کلونو د عوايدو، لگښتونو او کاري ځواک سروې د ارقامو له مخې*

د مقابلې دا ستراتيژۍ موږ دلته لاندې په کيفي ارقامو کې په لا ډېرو جزئياتو راسپړو. د دې ستراتيژيو له ډلې ځينې يې له هغو موضوعاتو سره تړاو لري، چې د ځوانانو په منځ کې لا له وړاندې پورته په گوته شوي دي، خو دلته په ځانگړې ډول د بحران په وړاندې د مقابل غبرگون په توگه پرې غږېدلي يو.

## د کمزورو شويو ټولنيزو اړيکو په شرايطو کې پور

څرنگه چې پورته اشاره ورته وشوه، د مالي فشارونو زياتوالي له وجې ټولنيزې شبکې يا اړيکې خورا کمزورې شوې. دې کار د نارسمي پور خوا ته د خلکو په مخ اړولو کې زياتوالی راوست، چې کورنۍ يې د لا ډېر پوروړي کېدو خوا ته ټېل وهلې.  واده ، ولور، د تدفين، روغتيا يا د درملنه، ورځنۍ اړتياوې او ځينې کلتوري – مذهبي مراسم هغه موضوعات دي، چې خلک ورته پيسې قرض کوي. په کندهار او هرات ولايتونو کې خلکو موږ ته د پورونو اخېستو دلايل را په گوته کړي:

۲۵ . د ساحوي څېړنې ټيم د مشاهداتو او له خبره اشخاصو سره د مرکو له مخې، دربيم پاې ليک وگورئ.

*موږ د خپلې اینګور (ناوې) د ولور لپاره ۱۵۰،۰۰۰ افغانۍ پور کړې. د هغې ټول ولور ۵۰۰،۰۰۰ افغانۍ و. ۵۰،۰۰۰ افغانۍ نورې پیسې مو د خپلو ورځینو لګښتونو لپاره پور کړې، ځکه د خپلو ورځنیو اړتیاوو لکه خوراکي توکو، درملو او نورو لپاره مو پیسې نه لرلې.*[26]

*زه ۲۱۰،۰۰۰ افغانۍ پوروړی یم. ۱۰۰،۰۰۰ افغانۍ مې د خپل پلار د تدفین مراسمو لپاره پور کړې دي، ۵۰،۰۰۰ افغانۍ مې د خپلو ماشومانو د درملنې لپاره او ۶۰،۰۰۰ افغانۍ مې د خپل واده د مراسمو لپاره په پور اخیستي دي.*[27]

*کله چې زما پلار ناروغ و، خپل ټول عواید مو د هغه پر درملنه ولګول. د دې ترڅنګ مو یو جریب ځمکه لرله، هغه مو هم د پلار درملنې لپاره وپلورله. پردې سربېره، موږ د انګورو تاکستان لرو، چې د هغه نیمايي برخه مو هم په ګروي ورکړه او اوس هم په ګرو کې دی. له مالي پلوه موږ ډېر کمزوري شوو او اوس پوروړي یو.*[28]

خلک دا پورونه د اوږدمهاله مزدورۍ له لارې بېرته اداء کولای شي، چې کلونه وخت نیسي، یا هم دوی باید خپل ملکیتونه او ځمکې وپلوري، چې په خپل وار سره دا ځمکې او ملکیتونه هم د عوایدو سرچینې دي. د بېلګې په توګه یو ځواب ویونکي د خپلې کروندې یوه برخه د خپل زوی د واده لپاره د پیسو برابرولو په موخه په ګروي ورکړې وه. یو بل ځواب ویونکي بیا د خپلې ځمکې یوه برخه او غوا د خپل پور بېرته ادابنې او خپل مشر زوی ته د واده کولو لپاره پلورلې وو.

## ځای ناستي کاري ستراتیژۍ او خطرناکې کاري ستراتیژۍ

د مالي ستونزو، اقتصادي محدودیتونو او کوبډ-۱۹ پرمهال کورنیو د عوایدو نورو سرچینو ته لکه د ښځینه وو له خوا د لاسي کارونو ترسره کولو او د کورنیو له خوا د پلاستیکي کڅوړو په راټولولو پسې د ماشومانو لېږلو ته مخه کړې وه، ځینې کورنیو چې نه شول کولای د کرنیزو او ودانیزو سکتورونو په څېر په نورو برخو کې ځان ته مزودرکاري پیداکړي، د ښځنتو بڼیو ته خوا ته یې کډه کړې وه. دې بدلون د دوی ستونزې راکمې کړې دي، که څه هم پر ماشومانو د کار په څېر یې یو لړ منفي اغېزې هم له ځان سره لرلې. دا ډول ستراتیژۍ په لنډمهال کې ګټورې او مرستندویه دي، خو اغېزې یې خورا ناورین زېږوونکې دي او په اوږدمهال کې د خلکو ژوند د ګړنګ تر غاړې رسوي، د بېلګې په توګه د ښځنتو په بڼیو کې کار کول ډېرې سختې فزیکي قوې ته اړتیا لري او په اوږدمهال کې د دایمي فزیکي ټپونو رامنځ ته کېدو لامل کېدلای شي، چې له وجې یې ماشومان نه شي کولای ښوونځیو ته لاړ شي.

*زه له خیاطۍ سره بلده یم، نو همدا ده چې په خپل کور کې خیاطي کوم. زما ورېنداري بیا په کور کې د کوم کار کولو مهارت نه لري. همدا وجه ده، چې دوی وزګارې دي. دوی ګلدوزي کولای شي، او ځینې وختونه ګلدوزي کوي، له دې لارې بیا یو څه اندازه پیسې ګټي. کله چې موږ په اُدرسکن ولسوالۍ کې وو، نورو خلکو به موږ ته ټوکران راوړل چې اوبدل یې وکړو، په بدل کې یې موږ خپله اجوره اخېسته، موږ د یو کیلوګرام په بدل کې ۲۰۰ افغانۍ په ادرسکن کې اخېستې، خو دلته اوس د یو کیلوګرام په بدل کې یوازې ۱۶۰ یا ۱۷۰ افغانۍ ترلاسه کوو.*[29]

*تېره ورځ په کار پیداکولو پسې ووتم. کار مې پیداکړ. د یو کس له کوره د خاورو راویستل و. د ورځې په پای کې مې د ټولې ورځې کار په بدل کې یوازې ۱۵۰ افغانۍ وګټلې. لومړی خو دا ډېره سخته ده، چې ورځنۍ مزدوري پیدا شي. دویم ، کله چې د ورځنۍ مزودرۍ کار ته ګورم نو اجوره یې ډېره کمه ده. نور ورونه مې کوچنیان دي، خو د ورځې په جریان کې هغوی کارول شوي کاغذونه او پلاستیکونه راټولوي او بیا یې پلوري.*[30]

---

۲۶ . اسناد، مرکه، ۲مه شمېره، مرضیه، ښځینه، هرات ولایت.

۲۷ . اسناد، مرکه،۱ شمېره، هستي ګل- کورنۍ بې‌ځایه شوي، نارینه، هرات ولایت.

۲۸ . اسناد، مرکه،۷ شمېره، ظریف، نارینه، هرات ولایت.

۲۹ . اسناد، مرکه،۸ شمېره، شیبا، نارینه، هرات ولایت.

۳۰ . اسناد، مرکه،۳ شمېره، حمید- کورنۍ بې‌ځایه شوي، نارینه، کندهار ولایت.

*له هغه وخت راهیسې چې موږ دلته راغلي یو، ستونزې مو زیاتې شوي دي. خاوند مې دایمي او سمه دنده نه لري، زامن مې په کوڅو کې پلاستیکونه راټولوي. که چېرې یو څه اندازه پلاستیک راټول کړای شي، نو لږ تر لږه د یو کیلوګرام په بدل کې ۱۰ افغانۍ ترلاسه کولای شي. ځینې خلک راته وایي، چې زامن دې په کوڅو کې پلاستیک راټولولو ته مه پرېږده، ځکه چې روغتیا ته یې تاوان لري. خو موږ څه کولای شو؟ که چېرې هغوی ونه لېږم څه شی وخورو؟ تر کرونا مخکې به مو بېوزلي ووژني.*[۳۱]

## بې ځایه کېدل او کډوالي

د پورونو بېرته اداینې لپاره د پیسو پیداکولو لپاره کډوالي یوه تر ټولو غوره لاره ده. پردې سربېره، له ایران او نورو هېوادونو څخه حوالې د کورنې بحران، واده او نورو پېښو یا مراسمو پرمهال ډېرې مهمې ګڼل شوي دي. له هرات ولایت څخه زیاتره خلک ایران ته د کار په موخه کډوال کېږي او په دې توګه د خپلو کورنیو لاسنیوی کوي. د دې ترڅنګ، د کوېډ-۱۹ له لومړنۍ څپې را په دېخوا ایراني حکومت په زرګونو افغان کډوال بېرته افغانستان ته اخراج کړي دي(رحیمي، ۲۰۲۱). دې کار منابعو او کاري بازار ته د خلکو لاسرسی محدود کړی دی.

*د ورځني مزد کارګرانو لپاره شرایط ډېر خراب وو. ځینې دندې وې، خو د جګړې له وجې خلکو کار نه شو کولای. له همدې وجې هغه وخت زیاتره خلک بې دندو وو. په ټول شینډنډ کې همدا حال و. خاوند مې څو میاشتې د مخه بېرته راغی. تېر ځل یې په ایران کې یوازې درې میاشتې تېرې کړې. بېرته ځکه راغی، چې پلار یې ووژل شو او په کور کې بل هېڅ نارینه نه و. بالاخره اړ شو، چې بېرته راشي.*[۳۲]

*زما یو زوی ایران ته د کار لپاره لاړ، خو بېرته د ایران له خوا اخراج شو. نوموړی د ۲۰۲۱ز کال د مارچ په وروستیو کې بېرته کور ته راستون شو. په ایران کې تر ۴۰ ورځو تېرولو وروسته بېرته په زور راوشړل شو. نوموړی ایران ته د پیسو ګټلو لپاره په کار پسې لاړ، ځکه د هغه د ښځې ولور لپاره مو ۱۵۰،۰۰۰ افغانۍ په پور اخېستي وې. خو موږ تراوسه هم هغه پور نه دی اداء کړی.*[۳۳]

*ایران ته د کډوالۍ دوه دلیلونه دي، لومړی دلیل یې ناامني ده خو تر ټولو مهم دلیل یې په افغانستان کې د اقتصادي شرایطو خوړتیا ده. دې کار خلک دې ته اړ کړي، چې له خپلو کورنیو سره یوځای ایران ته کډه شي.*[۳۴]

---

۳۱ . اسناد، مرکه،۴ شمېره، خاطره- کورنۍ بې‌ځایه شوي، ښځینه، هرات ولایت.

۳۲ . اسناد، مرکه،۱ شمېره، شکریه- کورنۍ بې‌ځایه شوي، ښځینه، هرات ولایت.

۳۳ . اسناد، مرکه،۱۵ شمېره، بلقیس، ښځینه، هرات ولایت.

۳۴ . اسناد، مرکه،۳ شمېره، عبدالمالک، نارینه، هرات ولایت.

# پایله او وړاندیزونه

په دې مباحثوي مقاله کې د کوبډ-۱۹، جګړې او اقلیمي بدلونونو له وجې هم مهاله بحرانونو ته کتنه شوې، چې په افغانستان کې یې د کلیوالي وګړو ژوند په تېره بیا ځوانان یې اغېزمن کړي دي. دا مقاله په دې بحث راڅرخي چې کلیوالي او کلیوالي سیمو ته د نږدې وګړو د ژوند ستراتیژیو څه ډول تکامل کړی او د دوی د ژوند د کړاوونو پرمهال یې کوم بدلونونه لیدلي، په داسې حال کې چې په ۲۰۲۱ کوبډ-۱۹ په پراخه کچه خپره شوې وه، جګړو زور اخېستی وی او وچکالي هم وه. هغه عوامل چې د پورتنیو عواملو ډلې ته د رژیم تر بدلون (د ۲۰۲۲۱ تر اګست) په وروسته پړاو کې ورزیات شول یو داسې بې‌ساری چاپېریال رامنځ ته کړ چې په هغه کې د مقابلې معمول ستراتیژۍ لکه له ټولنیزو اړیکو یا شبکو په ګټې اخېستنې د پورونو سیستم، بدیلې کاري ستراتیژۍ او کډوالي هم تر ډېره محدود شوي دي او د غربت خوا ته د وګړو لا زیات ټېل وهل کېدو لامل ګرځي. له دې ټولو ورهاخوا دا مقاله پر هغو کړاوونو او سختو شرایطو راڅرخي، چې افغانان لا د ۲۰۲۱ز کال تر اګست د مخه ورسره مخ وو. له تېر کال را په دېخوا تر سیاسي بدلون راوروسته پر اقتصادي محدودیتونو سربېره، د پولو تړل کېدو او د پراختیایي مرستو راکمېدو په دې هېواد کې شرایط لا پسې ترېنګلي کړي دي.

په دې مقاله کې د کوبډ-۱۹ په برخه کې د افغانستان د تجربې داسې بې‌ساری ماهیت راسپړل شوی، چې د سختو جګړو او وچکالۍ په څېر هم‌مهاله بحرانونه هم ورسره مل وو. د دې څېړنې موندنې په ډاګه کوي، چې ګڼ اړخیزو بحرانونو نه یوازې د زیاترو کلیوالي وګړو د ژوندانه کاري څرخ مات کړی، بلکې دوی یې بازار، راکړې ورکړې او ټولنیزو شبکو ته له ابتدایي لاسرسي هم محروم کړي دي. په دې مقاله کې هغه مهم عوامل په ګوته شوي، چې په هرات او کندهار ولایتونو کې یې د څېړنې په ساحو کې د غربت په رامنځ ته کولو کې مرسته کړې ده. دا عوامل یوازې هم‌مهاله بحرانونه نه و، بلکې د هغوی اغېزې هم په کې شاملې دي، چې د انفلاسیون، قیمتونو لوړېدو، په کورنۍ کچه بحرانونو، مقابلو ستراتیژیو، بې ځایه کېدو او کډوالۍ اغېزو کې تر سترګو شوي دي. دا بېلګې د جګړې، کوبډ-۱۹ او اقلیمي بدلون درې ګونو ننګونو ترمنځ پیاوړې اړیکې او تعامل په ګوته کوي، چې د خلکو پر ژوند یې سیوری غوړولی دی.

له دې څېړنې ترلاسه شوي موندنې او تحلیلونه د بشري او پرمختیایي برخو پالیسۍ جوړوونکو او پروګرامونو عملي کوونکو ادارو لپاره هم مهمې دي. له دې کبله موږ لاندې څو وړاندیزونه کوو:

لومړی، پر هم‌مهاله بحرانونو اعتراف او د دې موضوعاتو په مقابل کې د ډله ییز بحران مدیریت ته اړتیا ده، په تېره بیا کله چې د دوامداره جګړې او بې‌ثباتۍ په شرایطو کې د بشري بحران کابو کولو لپاره اقدامات کېږي. په دې برخه کې د ۲۰۲۲ بشري اقداماتو پلان د بشري اړتیاوو لرونکو زیانمنو وګړو ترڅنګ د جګړې او ناورینونو له وجې بېرنیو مرستو ته پر اړمنو خلکو پر هم‌مهاله پاملرنې مخکې له مخکې ټینګار کوي (د بشري اقداماتو پلان، ۲۰۲۲). پردې سربېره، په افغانستان کې د بشري عملیاتو حضور ډېر پیاوړی دی او ۱۹۱ مؤسسې (له دې ډلې ۱۰۷ ملي مؤسسې، ۷۲ نړیوالې مؤسسې او ۱۲ د ملګرو ملتونو سازمان اداري) په فعالانه ډول د ۲۰۲۲ ز کال د جنوری او مارچ میاشتو ترمنځ بشري مرستې ترسره کړي، چې په تېرو پنځو کلونو کې تر ټولو لوړ شمېر ګڼل کېږي(اوچا، ۲۰۲۲).[35] دغو سازمانونو تر ډېره بریده د خوراکي امنیت او کرنې دغه راز د خوندیتوب په برخو کې خپلې چارې پرمخ وړي دي. د دې ترڅنګ، زموږ له موندنو څرګندېږي، چې د دغو برخو په ګډون په ګڼ شمېر نورو برخو لکه زده کړو ته لاسرسي، روغتیایي خدمتونو، ژوند تېرولو، او ټولشموله مالي برخو کې د هغو کورنیو د پورونو لپاره د حل لارې موندلو په موخه اقداماتو ته اړتیا ده، چې د مقابلې منفي ستراتیژیو له وجې د پورونو دا پېټي ورترغاړې شوی. ټول‌شموله اقدامات نه یوازې د شرایطو او اقداماتو په غوره انسجام کې مرسته کوي، بلکې دا موضوعات په اوږدمهاله او اغېزناک ډول هواروالای هم شي.

له دې سره تړلي، موږ ډونران هم هڅوو چې د کوبډ-۱۹، جګړې او اقلیمي بدلون په څېر له هم‌مهاله بحرانونو د بېوزلۍ ارزونې حل لارو لپاره په خپلو تحلیلونو کې د یو چوکاټ په توګه ګټه واخلي. دا کار نه یوازې د دغو دریبو بحرانونو ترمنځ تړاو او تداخل په ګوته کولای شي، بلکې پر بېوزلۍ د ژورې پوهې ترلاسه کولو او د بېوزلۍ راکمولو په غوره ستراتیژیو کې هم مرسته کولای شي. د دې کار ترسره کولو لپاره پر ترکیبي تګلارو تکیه کول، چې د بېوزلۍ او زیانونو د متغییراتو د کمي تحلیل، ترکیبي مسایلو ته د ژورې کتنې، اغېزو او هغو پروسو له لارې یو عمومي تصویر وړاندې کولای شي چې د سوکالۍ په غوړېدا کې مرستندویه ثابتېږي، ډېره مهمه خبره ده. اوسنۍ څېړنه په دې تګلوري کې یو ګام دی، چې د نورو جزئیاتو له لارې غني کېدلای شي، په تېره بیا د ۲۰۲۱ز کال د اګست له ۱۵مې را په دېخوا د اوسنۍ دورې جزئیات خورا مهم دي.

---

۳۵ . په دې ډله کې هغه همکاران شامل دي چې د افغانستان بشري مرستو صندوق په مالي تمویل فعالې پروژې لري، هغه سازمانونه چې د راپور ورکړې مرکز له لارې د بشري اقداماتو پلان له فعالیتونو خبر ورکوي، او هغه اداري چې مستقیماً د بشري پروګرامونو عملي کول یا ارزول یا هم هم د څارنې چارې پرمخ وړي او خپل راپورونه د اوچا فرعي ادارو او د زون په کچه بشري ډلو ته ورکوي (اوچا، ۲۰۲۲).

دویم، له دې څېړنې ترلاسه شويو شواهدو ته په کتو په اوسنيو شرايطو کې خورا زياته اړتيا ده چې د دې بحران په مقابل کې د بشري او پرمختيايي اقداماتو ترمنځ اړيکې لا ډېرې غښتلې شي. که څه هم د زياترو نړيوالو مرستندويه ادارو له خوا په اوس وخت کې لومړيتوب د افغانستان خلکو لپاره بشري مرستې دي، خو دا کارونه په اوږدمهال کې له پرمختيايي اقداماتو پرته بريالۍ پايله نه لري. بله خبره دا، چې کوېډ-۱۹ وبا تراوسه هم په بشپړ ډول له منځه نه ده تللې او کمکي او مرستندويه پروګرامونه بايد د خلکو پر ژوند د دې وبا اوږدمهاله اغېزو له منځه وړلو ته ډېره پاملرنه وکړي.

افغانستان تر ډېره بريده د بشري – پرمختيايي او سولې محورونو په اړه کې ټولنيز خونديتوب ته پام کړی، خو تراوسه يې کومې کلې پايلې نه دي لرلي (IASC,۲۰۲۲۱). له دې ورهاخوا، دا محورونه کولای شي ټولنيز خونديتوب په ډېره پياوړې بڼه د بېوزلو خلکو په پلوی د اقتصادي غوړېدا او بشري پرمختيا له هغو نوښتونو سره مدغم کړي، چې له ټيټې خوا د ښېرازۍ او پرمختيا ملاتړ کوي (شيفرډ او نور، ۲۰۱۹).

درېيم وړانديز د ځوانانو د سوکالۍ پياوړتيا او الحاق لپاره د پاليسۍ جوړولو او پروګرامونو طرحه کولو ته پام کول دي. له دې څېړنې ترلاسه شوي موندنې د ځوانانو تر سرپرستۍ لاندې د کورنيو کمه شتمني په ګوته کوي، چې د کوېډ-۱۹ پرمهال تر بل هرچا ډېر د خوراکي ناامنۍ او بېوزلۍ له خطر سره مخ وو. له دې کبله، اړتيا ده چې په راتلونکې کې بشري او پرمختيايي پروګرامونه د ځوانانو تر سرپرستۍ لاندې کورنيو ته د خپلې پاملرنې په محراق کې ځای ورکړي. يوې تازه څېړنې چې په افغانستان کې يې د ځوانانو د الحاق لارې چارې تحليل کړې، لاندې وړانديزونه کړي: په حکومتي کچه د داسې بحث رامنځ ته کول چې د ځوانانو د الحاق لپاره يوه ګډه ژمنه رامنځ ته کړي، د فرعي مقصدونو د پراختيا له لارې په پروژو کې د ځوانانو الحاق ته پام کول، د ټولنيز انسجام د هڅو په اړه کې بشپړ اقتصادي الحاق، د بدلون استازو په توګه ځوانانو ته پام کول، د کليوالي سيمو په کچه د مهارت لوړولو داسې روزنو پراختيا چې د دندو په رامنځ ته کېدو کې مرسته وکړای شي، او هغو ځانګړو محروميتونو ته پام کول چې د زيانونو له تعاملاتو سرچينه اخلي (نړيوال بانک، ۲۰۲۰). په دې برخه کې مرسته کوونکي بايد د خپلو خدمتونو تر وړاندې کولو د مخه د هر وضعيت مهمې ځانګړنې په پام کې ونيسي، څکه د ځوانانو له ژوند روښانه او غوره پوهه ترلاسه کول د بېړنيو، لنډمهاله او اوږدمهاله مرستو په غوره وړاندې کولو کې مرسته کولای شي.

# اخذلیکونه

Aljazeera, 2021. Afghans flee to Kandahar city camp as Taliban advances. https://www.aljazeera.com/gallery/2021/7/29/afghans-flee-to-kandahar-city-camp-as-taliban-advances. (accessed on 15.03.2022)

CPAN. (2022). Covid19 Poverty Monitoring Initiative: March 2022 Afghanistan Bulletin. https://www.chronicpovertynetwork.org/covid19-poverty-monitor/afghanistan-march . Accessed May 1, 2022.

Diwakar, V. *Welfare of Young Adults amid Covid-19.* Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2022.

HRP. (2022). Humanitarian Response Plan Afghanistan. https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan-humanitarian-response-plan-2022.pdf Accessed 1 June, 2022.

Huot, D., A. Pain, and I. Ghafoori. *Livelihood Trajectories in Afghanistan: Evidence from Three Villages in Heart Province*. London: Secure Livelihoods Research Consortium, 2016.

IASC. (2021). Mapping good practice in the implementation of humanitarian-development-peace nexus approaches: synthesis report. https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/Synthesis%20report%20-%20Mapping%20good%20practice%20in%20the%20implementation%20of%20humanitarian-development-peace%20nexus%20approaches%20%28September%202021%29.pdf

International Federation of Red Cross (IFRC), 2021. Afghanistan: Worst Drought and Hunger Crisis in Decades. https://www.ifrc.org/press-release/afghanistan-worst-drought-and-hunger-crisis-decades (20.02.2022)

International Federation of Red Cross IFRC, 2021. Revised Emergency Appeal: Afghanistan Drought. https://adore.ifrc.org/Download.aspx?FileId=539996 (19.01.2022)

Jackson, Ashley. 2015. *Political Government in Afghanistan: The case of Kandahar.* Case Study, London: SLRC, AREU and ODI. https://areu.org.af/wp-content/uploads/2016/02/1513E-Politics-and-governance-in-Afghanistan-The-case-of-Kandahar.pdf (accessed 21 January 2022).

Khudadad, U., Safi, N., Aftab, W., Ali, A. and Siddiqi, S., 2021. “The COVID-19 pandemic: an opportunity to strengthen health systems in Afghanistan”. https://ecommons.aku.edu/cgi/viewcontent.cgi?article=1271&context=pakistan_fhs_mc_emerg_med (accessed 11 March 2022).

Mansfield, D. 2021. “Up to $100 Million Up in Smoke with Further Losses Downwind”. Kabul: Alcis. https://www.alcis.org/post/islam-qala-blast (accessed on 19 January 2022).

Mousavi, S.H., Shah, J., Giang, H.T., Al-Ahdal, T.M., Zahid, S.U., Temory, F., Paikan, F.M., Karimzadeh, S. and Huy, N.T. “The First COVID-19 case in Afghanistan Acquired from Iran”. *The Lancet Infectious Diseases*, 20, no. 6 (2020), pp.657-658.

National Statistic and Information Authority (NSIA), “Estimated Population of Afghanistan 2021-2022” Kabul: NSIA, 2021. https://www.nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2021/06/Estimated-Population-of-Afghanistan1-1400.pdf. Accessed 1 May, 2022.

OCHA. “Afghanistan Drought 2018-2019”. https://www.humanitarianresponse.info/en/disaster/dr-2018-000052-afg (accessed 19 January 2022).

OCHA/WHO. *Strategic Situation Report: COVID-19.* Kabul: WHO-OCHA, 2021. https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/strategic_sitrep_covid-19_29_july_2021_final.pdf (accessed 11 April 2022).

OCHA. (2022). Who does what, where (3w). https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/3w Accessed 1 May, 2022.

Pain, A., Huot, D. and Ghafoori, I., 2016. Livelihood trajectories in Afghanistan: Silent violence in Kandahar Province. *SLRC, AREU and ODI*.

Pain, A. and D. Huot, 2017. “Life in the times of ‘late development’: livelihood trajectories in Afghanistan, 2002-2016”. *Working Paper-Secure Livelihoods Research Consortium*, (50).

Rahimi, G. 2021. *https://tolonews.com/afghanistan-175467.* November 15. Accessed January 18, 2022.

Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR), 2021.Economic and Social Development. Quarterly update April 30th, 2021. https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2021-04-30qr-section2-economic.pdf (22.01.22).

United Nations High Commissioner for Refugees. 2021. UNHCR Regional Bureau for Asia And Pacific (Rbap) Flash External Update: Afghanistan Situation #4 As Of 01 September 2021

https://reporting.unhcr.org/sites/default/files/Afghanistan%20Situation%20Emergency%20Update%201%20September%20 2021.pdf

United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA). 2021. Civilian casualties set to hit unprecedented highs in 2021 unless urgent action to stem violence – un report. https://unama.unmissions.org/civilian-casualties-set-hit-unprecedent-ed-highs-2021-unless-urgent-action-stem-violence-%E2%80%93-un-report (accessed 10.01.2022)

WHO, 2022. Afghanistan COVID-19 Dashboard https://covid19.who.int/region/emro/country/af (accessed on 11.04.2022).

World Bank. (2022). A qualitative assessment of pathways to youth inclusion in Afghanistan. World Bank: https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/A-Qualitative-Assessment-of-Pathways-to-Youth-Inclusion-in-Afghanistan.pdf

World Bank, 2022.Covid19 Relief Effort for Afghan Communities and Households (REACH). https://projects.worldbank.org/en/projects-operations/project-detail/P174119 (accessed on 22.01.22).

Wu, F., Zhao, S., Yu, B., Chen, Y.M., Wang, W., Song, Z.G., Hu, Y., Tao, Z.W., Tian, J.H., Pei, Y.Y. and Yuan, M.L., 2020. A new coronavirus associated with human respiratory disease in China. *Nature*, *579*(7798), pp.265-269.

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پايلو د شريکولو طريقې و ارزوو. د نظرونو شريکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ايميل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۶۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته يې ويلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بريښنايي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهيرونو يا پايلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې يا موضوع ګانې چې تاسو يې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې يا فعاليتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې يا لېوالتيا ډګر، دنده يا څېړنه، او دغه راز موقعيت؟

# د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری نوی خپرونی

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسۍ وړ دي، او ډیرې ئې د هارد کاپې(چاپې بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکونکی ( مولف) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د څیړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| آګست ۲۰۲۲ | پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غېرونه ۲۰۲۲ په افغانستان، کولمبیا او میانمار کې پولې ته څېرمه د جګړه ځپلو او له نشه يی توکو د اغېزمنو سیمو د ژوند کیسې | | √ | √ | حکومتولی او سیاسی اقتصاد | توضیحی پاڼه |
| اپریل ۲۰۲۲ | له بدیلي پرمختیا سرخ د سوداګریزې کرنې تراو: د افغانستان د قانوني او غیر قانوني توکو کلپاهر د بازارموندې ازمویل شوې نسخې | آدم پین، محمد حسن وفايي، ګلثوم میرزاده، خالد بهزاد، مجیب احمد عزیزي | √ | √ | معیشت او ټولنیز خوندیتوب | شننیزه مقاله |
| آپریل ۲۰۲۲ | پولې ته د څیرمه پرتو سیمو غېرونه۲۰۲۲ په افغانستان، کلمبیا او میانمار کې د جګړه ځپلو او له نشه يي توکو د اغیزمنو سیمو د ژوند کیسې | | √ | √ | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | شننیزه مقاله |
| مارچ ۲۰۲۲ | په افغانستان کې د کوید۱۹ بی وزلی وضیعت ارزونه | | √ | √ | معیشت او ټولنیز خوندیتوب | |
| نوامبر ۲۰۲۱ | یو مالیاتي روایت: د عوایدو ناسمه محاسبه او په افغانستان کې د جګړې ناسم درک | ډیوید منسفیلډ | √ | √ | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | پالیسي پاڼه |
| نوامبر ۲۰۲۱ | د ښځو پر وړاندي د تاوتریخوالي قانون ۱۱ کاله: د ۲۰۰۹-۲۰۲۰) قانون پلي کیدو ته یوه کتنه | ملیسا کورنټ | √ | √ | جنسیت | مطالعي مقالات |
| اکتوبر ۲۰۲۱ | یو مالیاتي روایت: د عوایدو ناسمه محاسبه او په افغانستان کې د جګړي ناسم درک | ډیوید منسفیلډ | √ | √ | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | تحلیلي مقاله |
| اکتوبر ۲۰۲۱ | سوله او ناقانونه نشه يې توکي په حاشیه کې: د افغانستان د دوامداره پراختیا شپاړسمي موخي ته یوه کتنه | ډاکټر اورځلا نعمت | √ | √ | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | لنډه مقاله |
| جولای ۲۰۲۱ | د نارینه وو او نارینه توب پیژندنه: په افغاني ټولنه کې د جنسیتي مساوات رامنځ ته کولو پر لور | منزه ابتکار | √ | √ | جنسیت | موردي مطالعه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جون ۲۰۲۱ | په افغانستان کې نشه يي توکي او پراختيا يې: د ملي پاليسۍ شننه او فعالين | آدم پين، کاوه کرامي، ډاکټر اورځلا نعمت | √ | √ | حکومتولي او سياسي اقتصاد | مقاله د پراختيا په حال کې |
| مارچ ۲۰۲۱ | په جنګ کې حلوا نه تقسيميږي | ډاکټر اورځلا نعمت | √ | √ | | |
| فبروري ۲۰۲۱ | په افغانستان کې قضايي خپلواکي: قانوني چوکاټ او عملي ننګونې | شعيب تيموري | √ | √ | اساسي قانون | شننيزه مقاله |
| فبروری ۲۰۲۱ | په افغانستان کې نشه يي توکي او پرمختيا: د ملي پاليسی او فعالالانو شننه | آدم پين، کاوره کرامی، داکتر اورځلا نعمت | √ | √ | حکومتولی | |
| جنوری ۲۰۲۱ | پیوستون، پیاوړتیا او زړورتیا: په افغانستان کې د ښځو سیاسی ګډون | انا لارسن، نواه کو بو ر ن | √ | √ | جنسیت | توضیحی پاڼه |
| دسامبر ۲۰۲۰ | جان گل | | √ | √ | | |
| سپتامبر ۲۰۲۰ | په افغان سولې پروسه کې د ښځو ګډون: موضوعي څېړنه | شکریه آزادمنش، احسان الله غفوری | √ | √ | جندر (جنسيت) | موضوعې څېړنه |
| سپتامبر ۲۰۲۰ | منجنیق، پیک آپ او ټانکرونه: د پولو دواړو غاړو ته تولید او سوداګري او د نیمرزو پولې ته څېرمه پرتو سیمو د سیاسي اقتصاد په بدلون کې یې رول | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی څېړنه |
| جولای ۲۰۲۰ | افغانستان کی له کاوید ۱۹ نه دجندر په هکله خبرداری | | | | XII : د کاوید ۱۹ اغیزه پرهغو ښځو چې د کوکنارو له کرهنی سره تړاو لری | جندر |
| جولای ۲۰۲۰ | د قاطرانو او نقلیه وسایطو تګ راتګ: دپولی هاخوا تولید او سوداګری او دننګرها د سیاسی اقتصاد جوړښت | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی څېړنه |
| جون ۲۰۲۰ | کله چې اوبه وچیږی: کله چې د افغانستان په سویل لوېدیځه دښته کې اوبه وچیږی او د ۱.۵ میلیونه وګړو ژوند له خطر سره مخ کېږی، څه باید وشی؟ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مد یر یت | توضیحی پانه |

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې ټولې خپرونې دغې ادارې له کورپاڼې (www.areu.org.af) څخه تر لاسه کولای شي.

په کابل کې د دغه ادارې په دفتر کې چاپ شوې کاپیانې هم موجودې دي.

تلیفون: ۰۷۹۹۲۰۸۵۴۷ (۰) ۹۳+
برېښنالیک: areu@areu.org.af
ویب پاڼه: www.areu.org.af

ISBN 978-9936-641-89-1